بسم الله الرحمن الرحيم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مثلث

ليکوال
مقتصد ستړی

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کتاب پېژندنه

د کتاب نوم...................مثلث

لیکوال.......................مقتصد ستړی

خپرونکی ................... فکر نو ادبي فورم پښین

چاپ شمېر................. ۵۰۰

پښتی ........................ نوید ارین

دچاپکال.....................جنوري۲۰۲۱

چاپ ځای.................. کابل

**د کتاب موندلو درک**

کابل ... د شال اداره
کندهار ... مطالعه کتاب پلورنځی
کوټه ... تکتو کتاب کو

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عرض**

مثلث د حالاتو ځرګنده نامردي را په ګوته کول غواړي، تر څو پوه شم چې دا هرڅه زما د خپلې بې غوري پايله ده.
د نن او پرون په کش او ګير کې راګير ستړي ځان مې د مرګي په کوڅو قدم وهل پيل کړي او اوس تر لمرختو ، لمر پرېوتو ته ډېر خوشبينه وي، زهٔ نه پوهېږم د تقدير فيصلې به دا وي او که ما خپل تقدير د بې غوره تدبير په لاسونو کې اچولی دی.
په يوه درنه او وحشتناکه شپه کې ساه اخلم، دا يو ډېر عجيب حالت دی، زهٔ مې دخپل قبر ننداري ته ولاړ يم، يو څو نامعلوم افراد زما په اندامونو خاوري اړوي او په همدې توګه غواړي زما له ژوند څخه خپل غچ واخلي.

**مقتصد ستړی**
د کابل باغروره ښار
۱۳۹۹ کال نامعلومه نېټه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ لپاره به ښه دا وي چې تر خپل مرګ مخکې ژوندي او چمتو ووسو او دا به رښتيا هم ډېر خوندور مرګ وي چې انسان يې له راتګ وړاندې ژوندی وي .
همت دا خبرې په ډېر ژور انداز سره تکرار کړې او بيا يې د ايمان لاس په لاس کې ونيو او زياته يې کړه:
_ ګوره جانانه ! موږ تقريباً په ژوند کښې درې ځله مرو، لومړی دا چې مرګ ته پيدا سو، دوهم دا چې ناهيلې کيږو او دريم هم د ناکامۍ او ډار نوم دی چې موږ وژني.
_ دا خو زه هم منم چې له انسان پرته بل هيڅ داسې مخلوق نسته چې له ژونده يې زړه تور سوی او ځان يې وژلی وي، البته زه بيا دا وايم چې د ځان د وژلو لپاره به مناسبه واقعه کومه يوه وي، خو ځان وژنه به يقينا يوه زبردست او خوندوره تجربه وي!؟
د منټو "خودکشي " له لوستلو وروسته دا راته مالومه شوه، چې ځان وژل آسانه دي او د شرمندګۍ بهترين مثال دی ، د زهير باچا خبره " ژوند ازغن بار دی او ښاغلی ځوک به يې په لوځه شا وړي " د ځان وژنې لامل بېل بېل کېدلای شي، خو غربت او بې وسي هم ځان وژني دي.
باچا يو بل ځای هم دا خبره ياده کړې چې "منټو هم
خودکشي وکړه؛ د ده فطرتي مرګ نه وو او بيا خودکشي هم غير فطري عمل نه دی، ولې طبيعيت هم د فطرت تابع دی. داسې ډېر مثالونه سته چې مشهورو خلکو د نجات اخري پړاو په خپله د

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان ختمېده وګڼل، صادق هدايت د Blend owl يا ړوند بوم ناول له ليکلو وروسته د نيويارک د يو هوټل په باد پکه ځان راځړوند کړ، خلک وايي دا يې ځکه وکړو چې هدايت د ډېر شهرت او مقبوليت څخه تنګ راغلی و، لاکن زما په فکر هدايت د خمېني د ړندو مقلدينو ګواښونو ځان وژني ته اماده کړ؛ ځکه هدايت تخيلي انسان و او تخيلي انسان ډېر حساس وي."

**همت بيا ورغبرګه: جانانه!**

_ دا هم بايد وويل سي چې ځان وژنه شرط نه ده، زه تر دې وړاندې څو څو واره وژل سوی يم. په ژوند کې ډېر داسې وختونه راځي، که انسان ژوندی هم وي وژل سوی وي.

په واقعيت کې د ژوند هره لمحه ځان وژنه ده. د قوي اعصابو او کتابونو سره تړلي خلك دا د زهرو ګوټ قبلوي او ځان وژنې پورې يوه ترخه خندا کوي. د سبا په هيله ژوند تېروي.

دا وخت د شپې دوولس بجې وې، چې همت او ايمان په خبرو بوخت و، ايمان په ډېر خوند، خوند سره د شنه چای تاوده غړپونه ترستونې تېرول.

_ څه ډول بايد فکر وسي، هيڅ نه ارزي، ژوند د يو بدبخت تخم له دانې را ټوکېدلی دی، موږ له بيکاره تخم څخه د ښو حاصلو تمه لرو. دا هيڅ امکان نه لري؛ نور لا نور خو زه د خدای په دې خبره پخه عقيده لرم چې يوه ورځ به ورسره مخامخ کېږو او حساب به

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوو، ددې حساب، کتاب نتیجه به څه وي! په دې مې چندان زړه نه پاکیږي.
_ که چېرې زه او خدای یو بل ته مخامخ سو، فوراً همدا پوښتنه کوم چې دومره مغرور او پر ځان مئین ولې وې؟
ایمان وویل:
_ کیدای سي دی ځکه په ځان دومره مئین دی چې د قدرت خاوند دی، خو دلته سوال دا پیدا کیږي چې د بنده په حق کښې تل ناخبره اوسېدلی، نو د بنده یواځې، دا حق و چې دنیا ورته جوړه کړي؟ نو که د بنده یوازې او یوازې دا حق و چې دنیا ورته جوړه کړي نو بیا یې د بخت کیسه څنګه رامنځ ته کړه، زه په بخت او تخت دواړو یقین لرم، خو زه مې خپل بخت د خدای په لاسونو کښې نه وینم، زه هر وخت دا خبره
کوم چې خدای یواځې په همهغه چا مهربان دی چاته چې یې ورپام دی.
او بیا خدای ځینې بندګان هم داسې پیدا کړي چې تر ده څو چنده په ځان مئین او مغرور دي، کټ مټ همداسې، هیڅ د چا زړه ته نه ګوري، زه په دې ښه پوهېږم چې د زړه کار یواځې وینه پمپ کول دي خو له مینې سره خامخا څه ناڅه تار لري. انسانانو ته خدای عقل ورکړی، خو دومره هم نه چې د عرش لاره پیدا کړي.
د اطاق ور ورو وټکېده, چې همت غوښتل ور ولاړ شي، ور له هغې خوا راخلاص سو، د دفتر ساتونکی و، سګرېټ یې غوښتل،

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه سګرېټ ورواخیستل او ووت، له دې سره سم ایمان هم سګرېټ بل کړ، یو تریخ دود پورته کېده، تمامېده.
_ د سبا لپاره پلان څه دی، باید چیرته لاړ سو؟
**همت ځواب ورکړ:**
_ د سبا اټکل د موسم له اړخه أسان دی خو د قسمت په دې برخه کښې څه ویلی نه سم؛ خدای نه راضي کېدونکی څوک دی او که راضي هم سي هغه بیا د شیطان وس ورباندې بر وي او له شیطان سره د خدای هم تر وس تېره ده._ دا ښه ده چې د خدای تخت مو پر ځمکه چیرته نه دی، یو چا خو به په کاڼو ویشتلی
وای، دا څنګه کیدای سي چې چاته یې زړه سي، له ازله سمه برخه ورکوي او که چاته یې زړه نه سي نو هیڅ. بخت یو خیال دی چې زموږ په روح کښې کرل سوی، په قسمت او دې ته ورته نورو شیانو باور کول یوازې یو مذهبي اړخ درلودلی سي، خو زما ورباندې هیڅ زړه نه پاکېږي.
هغه څه چې زما ورباندې یقین کېږي هغه شیطان دی، شیطان یو خوندور حقیقت دی چې د ګناه تله یې درنه کړې ده، ګناه هغه څه ده، چې زموږ زړه ورباندې مینځل کېږي، یانې دا هم یو حقیقت دی چې د منلو وړ ګرځېدلی، هرڅومره ګناه چې کولای سې کوه یې دوزخ درته سترګې په لاره دی، خو د ثواب او جنت نه کوم معیار شته، نه مقدار.
ایمان ورغبرګه کړه:

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ د نشې او تماشې یاران یا د خدای یا د شیطان تحفه وي، پر ما یوازې د شیطان لورینه ده، ځکه خو د خدای له عظیمې او مهربانې تحفې بې برخې یم.
او پسې زیاته یې کړه "اذیت یې لوی اذیت."
همت وویل:
دا نو د ثواب او ګناه ترمنځ د یو خوندور جنګ پیل دی، ګټونکی یې یواځې او یواځې هغه شوخ او کرار څوک کېدلی سي چې لا تر اوسه یې د بربښنا په تارو
ګوتې نه وي وهلې، اوس به هغه د الِ فرعون کیسې هم کومه خاصه فایده ونلري دوزخ شرمنده بولم.
د ایمان سترګې خوب درنې کړې وې، پخپل ځای کې وغزېد، د ناشناس غږ ورو، ورو له ځان سره د خوب نړۍ ته یووړ.
ایمان له وخته ویښ و خو د همت له غږ سره سم یې ځان غلی کړ، هغه ژر ژر خبرې کولې، هله ! هله ! پورته شه تا خو ویل باید چیرته لاړ شو، که څه هم جمعه ده، خو بیا هم ناوخته ده، لمونځ دې هم قضا کړ. بیخي ډېرې نارې مې دربانديې وکړې، ویده شوی وې هله نو پورته شه !!
بیا یې په میز پرته د کابل چاپ ورځپاڼه ور پورته کړه " ولسمشر غني: ۴۰ کاله نړیوالې ټولنې د سولې له حق محروم ساتلي یو." له ځایه پاڅید او د ایمان په مخ یې له ګیلاس څخه سړې اوبه ورڅنډ وهلې، هغه یو دم راکښناست او وې ویل:

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاره جانانه! خوبونه مو یوائې تر سترګو پټولو محدود دي، زما په څېر ډېر نور څوک به هم وي چې د سوی غوندې په رڼو سترګو خوب ویني، مونږ دا د مجازي خوبونو عادت اخیستي یوو، حقیقت ته مو ورپام نه دی؛ نن څوومه ده یو خوندور خوب بې خوبه کړی یم خو آیا
دا به رښتیا شي! که لکه د نورو هغو به د تور او سپین فلم په څېر یو خیال پاتې سي!؟
_ دا به وخت فیصله وکړي هله نو ته اوس پورته شه ناشته تیاره ده.
_ خو خبره دا ده چې وخت او بخت همیشه زما په حق کښې ګوتې وهي، کله یې هم په ښه زړه خپل حق رابښلی نه دی.
همت وویل، مطلب ؟
ـــ مطلب دا چې د سولې بهیر له ډېرو هلو ځلو وروسته هم دا مهال کوم ځانګړی لوری نه لري.
څه کم لس بجې وې، بیخي ناوخته وه، پرته له دې چې نور څه ووایې، ایمان او همت په پټه خوله ناشته وکړه، د باندې راووتل او د میوند لیدو ته روان شول، د ورځنیو فعالیتونو او کړو وړو اکثریت پرېکړې به یې په دهٔ کولې، ټولو ته خورا ډېر نږدې او ګران ملګری و
لاره کې بیا د دوی بحث د سولې په روان بهیر و، ایمان د همت د یوې خبرې په ځواب کې وویل : د قطر وروستۍ ناستې نه پس د

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



سولې د بهير د برې په صورت کې د موقت حکومت جوړول تر ډېره د ولس او سياستوالو تر منځ د بحث لامل ګرځېدلی، خو د موقت حکومت طرحې زموږ ترمنځ د نويمې
زيږديزې لسيزې په پيل کې د مجاهدينو د تنظيمونو ترمنځ جوړ د موقت حکومت او له هغه وروسته خونړيو کورنيو جګړو غمجنې خاطرې را ژوندۍ کوي، ځکه د زړه ښه کېدو وړ نه ده.

همت ور غبرګه کړه ، دا خو پرېږده بل لور ته بيا سيمه ييز لوبغاړي لکه روسيه او پاکستان د خپلو سياسي موخو ترلاسه کولو لپاره منډې ترړې وهي.
د غرمې ۱۲:۰۰ بجې دي خو د ميوند په کوټه کې لا اوس هم تياره جوړه ده، پردې کش دي او همدارنګه يو تريخ د سګرېټ لوګی .
زه خو وايم نن بايد يو داسې ځای ته لاړ شو چې هلته هم خواړه وخورو او هم يوه ارامه فضا وي نن مې همداسې يوڅه ته زړه شوی، ميوند وويل.
په موټر کې کېناستل او له يو څه شېبې وروسته په "سوپر شينواري" کې وو.
اوهو دا خو بيخي زبردست، پدې شرط چې خوندور خواړه ولري، خوراک يې راوغوښت، يو دوه کاشوغې سوپ مې خوړ چې ملګري مې غږ کړ، مچ!!!
د همت په پياله کې مچ و، ميوند وويل کوم توپير نلري، نوشجان...

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ نه یار بیخي چټل دی، مچ یو ډېر چټل ...، په حقیقت کې هغه له هر ګام سره یوه باکتریا لېږدوي، تر اوسه پورې به بیخي کم داسې څوک وي چې له مچانو څخه یې کرکه نه کېږي، چیرته چې کثافات موجود وي هلته به مچ هم خامخا په یوه نه یوه طریقه ځان ور رسولای وي.
ایمان ویل:
_ زمونږ شاوخوا هم داسې ډېر مچان شته، چې پاکو ذهنونو ته یو ډول خیرن وایروسونه لېږدوي، همدا وجه ده چې په ځینو اسانه مسایلو کښې د شک او تور ګمان ترمنځ راګیر یؤ، مونږ مخکې له دې چې ځان له ذهني ناروغیو وژغورو باید له خپل شاوخوا هغه کثافات لرې کړو چې مچان ورباندې بوټېږي.
بس په نه خبره یې ډوډۍ پرېښوده او د باندې راووتل، له یو بل دوکان یې د خوراک، څښاک شیان راواخیستل؛ په ښار کې ورو، ورو روان وو، میوند په تلو، تلو کې یوه نوې خبره وکړه، په رب مې دې قسم وي، دا سرک به یوه نه یوه ورځ زمونږ په وینو رنګ شي؟
همت ورغبرګه کړه، هو که تا همداسې ډرایوینګ کاوه نوحتماً...
ـ نه زه دا نه وایم، زما مطلب دا دی چې مخالفین مو هره شېبه څاري او دا ځای تر نورو هغو زیات خطرناک دی .
په کومه ګنا؟!

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا چې هرڅوک ددې هيواد د يو روښانه راتلونکې فکر لري وژل کېږي به، کابل دا مهال د ځوانانو په يوې قتل ګاه بدل شوی، هغه ورځ دې وليدل چې د سولې ارزښت تر عنوان لاندې ليکچر مې وړاندې کړ ځومره زنګونه يې راته ووهل.

دښمن مکار دی هم چالاک دی، د کور په تالۍ ځنو مې د سر سړي په چانې، چانې اخلي، خو زما د قام سړي به بيا هم سنګر ته نه پريږدي. اوس مو د شعور سزا سنګسار راته ټاکي، دا ځکه چې موږ د مشالونو په وژلو چوپ پاتي شوي يوو.

همت زياته کړه:

زه له طالب يا کوم بل چا څخه دومره وېره نلرم، ځومره چې له همدې خپلو ملګرو لرم، کوم چې په غونډو او فکري فعاليتونو کې راسره برخه اخلي.

ايمان وويل: ـ د خړ او برګ دواړو سرونه د يو او بل په اخورونو کښې دي، دوی په فطري ډول دې ته جوړ

دي چې يو بل وزغمي، دلته د رنګونو تفاوت شرط نه دی؛ بلکې حقيقت دا دی چې دوی څنګه يو رونې اصليت ته تاوان ورسوي، زه دا نه وايم چې ښه او بد نشته، خبره داده چې هر يو يې خپل رنګ په سم ډول سرته نه شي رسولی، ځکه خو د رونې اصليت د بدرنګۍ لامل وګرځي .

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې وارو په یوه داسې ټولنه کې په رضا کارانه ډول د خلکو فکري او شعوري بیداري ته کار کاوه، چې هرڅه یې د مذهب تر دایرې محدود خو له بیخي زیات
افراطیت سره پرمخ وړل کېدل او هره هغه خبره چې د پوهې او حقیقت په بنیاد به وه، کفر ګڼل کېده.
۲۸ اسد چې د هیواد د خپلواکۍ له ورځې سره برابره ده، نن ورځ بیا هم دوی یوې غونډې ته روان وو، چې په لاره کې وربانديې ډزې وشوې، که بخت یې زورور نه وای بچ کېدل یې که ناممکن نه و، مشکل خو به ضرور و.
امنیتي سرتېري په خورا حوصله مندۍ سره دوی ته ډاډ ورکاوه او ورته ویل یې:
د ګوتو په شمار څو وحشي کړۍ ددې خلکو حوصلې نشي وژلی، موږ ددښمن په وړاندې کمزوري څوک
نه یوو، ژوند کوو او نورو ته مو د ژوند کولو موقع ورکړې ده.
ایمان د سرتېري په ځواب کې ورغبرګه کړه، تاسو یاست چې موږ یوو، دا ښکاره خبره ده، چې زموږ په ژغورولو کې لومړی خدای او بیا تاسو ونډه واخیسته، ستاسو شهامت ته سلام!
او هو هیله کوم اجازت راکړئ موږ د خپلواکۍ د ورځې په اړه جوړې شوې غونډې ته روان یوو باید ژر ځانونه ورسوو دا ډېره اړینه ده.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډه پیل وه، دوی یې په جریان کې تالار ته دننه شول، دا وخت یوه دنګ ځوان په سټېج داسې وینا کوله:
"د خاورې او د خلکو د دښمنانو په وړاندې د خپل مظلومیت اظهار د دښمن ځناورتوب په شعوري توګه منل دي، خو د دښمن په سترګو کې سترګې اچول مزاحمت دی او وحشت ته یې وحشت ویل په کار دي.
یو څه وخت او کار لا نور هم غواړي چې دا په ذهن ړانده خلک بینا سي، اوس هم دلته یو څوک شته، چې
پردې مفکوره پر مخ وړي او د دوی په وړاندې حقیقت بیانول ناداني ګڼل کېږي . "
هغه زیاته کړه:
زموږ نظر نن هم روښانه دی او پرون هم ټولو ته څرګند و، «تر څو چې پښتانه له فکري پلوه بیدار او له ذهني غلامۍ څخه خلاص نسي د سیالانو سیال نشي ګرځېدلی.»
هغه په خورا خوندور انداز کې خپلې خبرې وروبغښتې او له سټېج څخه راکښته سو، وياند ټولو نورو هغو راغلو میلمنو ته ښه راغلاست ووایه چې همدا اوس تالار ته دننه سوي وو ...
ورپسې یې ایمان سټېج ته وباله؛
څوک شته چې تر دې مشعلونو څادر وګرزوي او د تور شمال مخه ونیسي، چې دا ډیوې مړې نسي. لمر او سپوږمۍ په ژوند باندې وړیا رڼا او تودخه خرڅوي، د کایناتو انسان او خدای تر منځ چې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومې اړیکې دي. دا ټولو ته ښکاره دي. انسان د دې حق لري، چې د خپل خدای په لټون پسې د کایناتو په رګونو کښې ننوزي، حقیقت به هر وخت حقیقت وي، حقیقت هیڅکله پټیدلی نسي.
په تالار کې چوپتیا وه ، ټول د ایمان خبرو ته په حیرانتیا غوږ وو؛ زمونږ خپلواکۍ په ویښتیا او فکري بیداري پورې اړه لري. کله چې مو ځانونه بند او فکرونه ازاد کړل. بیا کولای سو چې په ارامه سره الوت وکړو، ژوند وکړو او د پرمختګ په لور ګامونه واخلو.
هیڅ یو هیواد تر هغه وخته پورې ازاد او خودمختار هیواد نسي کیدای، ترڅو خلک یې له ذهني غلامۍ څخه خلاص سوي نه وي.
دا هیواد په مونږ حق لري، مونږ ته پکار ده چې هیواد ته کار وکړو، لږ تر لږه د خپل هیواد درناوی وکړو او د هغه پر ضد د منفي تبلیغاتو مخنیوی او په وړاندې یې نیغ په نېغه ودرېږو، په سیاسي ګوندونو کښې چټل فکرونه سته، چې د خلکو له سپېڅلو احساساتو ناوړه ګټه پورته کوي. همدارنګه شته ځینې ناولې کړۍ چې په یوه نه بله پلمه هیواد او خلک تخریبوي.
تالار چک چکو واخیست ...
هغه په ډېر جدي انداز خبرې کولې ؛
حکومت او چارواکې تر خپله وسه پورې د یو نه یو چا او یا هم یوازې او یوازې د خپل ځان په مذهب وي، عموماً موږ ته د ملي ګټو ته ژمن پاتې کیدو درس هغه چا راکړی کوم چا چې تر ننه ملي ګټې په پوره مانا پېژندلې نه دي، هر هغه څوک چې د ملي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګټو په اړه غږېږي، د پالنې او هغو ته د ژمنتيا خبرې کوي. پخپله غل دی، ولې دا د هيواد په هر وګړي فرض ده، چې تر خپلو ګټو ړومبی بايد ملي ګټې په پام کښې ونيسي او هغو ته ژمن پاتې شي.
تالار کې بيا هم شور او چک چکو زور ونيو...
ايمان د مننې ترڅنګ خپلو خبرو ته دوام ورکړ؛
له خپلواکۍ پرته ژوند ستونزمن دی، پرته له هغې مونږ وګړي له هيڅ سره برابر، ستړي، ستومانه، نا هيلي، او له هرڅه څخه لاس مينځلي به ناست يوو، زمونږ د زړونو تودوالی په خپلواکۍ کښې نغښتی، مونږ بايد په دې پوه سو چې له هيواد سره مينه د ايمان برخه ده، او هر هغه څوک چې له خپل هيواد سره مينه نلري، د کامل ايمان څښتن نشي کيدی، زمونږ عزت او ناموس د سپېڅلې خاورې په ساتلو کښې دی، که هيواد او خاوره مو خوندي وي.
ناموس مو خوندي دی او کنه
دا ددې هيواد غږ دی، دا د شاه غازي آمان الله غږ دی. دا بدرګه کړئ او ووایاست:
زه يو ازاد او خپلواک وطن يم، خپلې رايې، خپل جمهوريت، خپل ولسمشر، خپل پارليمنټ، ادارې، لويه جرګه، او هر هغه څه چې لرم، چې د يو ازاد، خپلواک هېواد لپاره ضروري دي.
کله چې غونډه پای ته ورسېده، يو ښاغلی يې څنګ ته راغی او ورته وې ويل، ته هيڅ ښه نه کوې، که دا فعاليت همداسې دوام

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولړي پایله به یې ښه نه وي، اوس د داسې خبرو کولو وخت نه دی.
ایمان په پټه خوله ترې روان شو او له ځان سره یې وویل:
- کیدای سي زه ملامت یم یا که ووایم هو زه ملامت یم بیا هم سمه ده، ځکه چې ملامت یم تاته او ددې خلکو په وړاندې؛ د سترګو رڼولو حق نلرم. ژبه مې په ستونې پورې تړلې ده، چیغې مې په مرۍ کښې غوټه دي او همدارنګه د عقل تر وس تېره ده، د فکر ساه ختلې یواځې او یواځې تور ګمان دی چې خبرې یې اورېدل کیږي، غږ یې بدرګه کیږي.
پام وکړئ یو تازه خبر ته!
راپورونه وایې چې تېره شپه نامعلومو وسلوالو یو تن ځوان په خپل کور کې وژلی دی، ویل کیږي دغه ځوان په ښوونځي کې استاد و او وخت ناوخته یې په مدني او سیاسي فعالیتونو کې هم برخه اخیسته.
د تلویزون په پرده د همهغه ځوان انځور و چې تېره ورځ یې د خپلواکۍ جشن غونډې ته وینا کوله.
میوند اخ کړه ، اخ خدایه اخ دښمن تل د حقیقت غږ خاموشه کول غواړي، دوی که هرڅومره له تشدد او وحشت څخه کار واخلي بیا هم یو ربنتونی او حقیقي غږ خاموشه کولای نه شي، بلکې لا زیات به بدرګه کیږي، دا ډول کړنې یوازې او یوازې د دوی په ناکامۍ دلالت کوي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایمان چې دا وخت بیخې غلی ناست و او ځان یې په کتاب بوخت
ښود د خبر په اورېدو یې داسې ژر کتاب کېښود او اه یې کړل؛
د انسان په جامه کې پټ له وحشي ځناورو څخه نور نو د څه تمه
کیدلی سي ؟! خو همدا چې د انسانانو وینه وزبېښي او د ماشومانو
له ژړا خوند واخلي.
همت دتلویزون کانال بدل کړ، خبر و؛ «افغانستان کې سوله د
پاکستان او سیمې په ګټه ده»
تلویزون یې بند کړ او له ولاړېدو سره سم یي وویل:
ـ افغانان او بیا په خاصه توګه پښتانه په تاریخي او مذهبي حواله
داسې ګونګ پاتې سوي دي لکه هیڅ شی چې یې تر اوسه نه لیدلي
او نه هم اورېدلي وي. دا دومره وحشتناکه کیسه تماميدلی سي، چې
په هیڅ ډول به د راتلونکو نسلونو لپاره د زغم او حوصلې وړ نه
وي، لاکن په لاس به هم څه نه ورځي، مثل دی چې تر ورخ تېري
اوبه بیرته نه راګرځي.

خو بیا هم ددوی خپل تصمیم ونیو او ځوان ته یې د عدالت غوښتنې
لاریون راوباله، ملګرو ته یې زنګونه وکړل او په ډېر کم وخت
کې هرڅه اماده هم شول،
د لاریون ترسره کېدلو وروسته خپلې کوټې ته راغلل، یو بل
ملګری یې هم ورسره و، د چای څښلو پر مهال هغه دا خبره وکړه،

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو په رښتیا سره هم هیڅ ښه نه کوئ، ددې تولنې له دود او دستور سره په تضاد کې روان یاست .
ایمان ورغبرګه کړه:
زه په دې ښه پوهیږم چې زما ددې تور بې خونده حالت لامل څوک دی، مګر بیا مې هم په خوله لاس نیولی، د ژوند کولو حق غواړم او دا حق باید راکړل سي .
ـ سمه ده زه به هیڅ هم نه وایم څوک په چا څه کار لري؟! هرڅه چې کوې کوه يې.
ـ خو دا نو بیا څه مانا چې ستا کړنې ددې تولنې له دود او دستور سره خلاف دي، رواج د اسلامي دین زیږنده نه ده او همدا رواجونه دي چې په مونږ یې د مذهب دایره تنګه کړې ده .
همت زیاته کړه:
هر کله چې انسان خدای او ځان د مذهب له دایرې د باندې د خپل فکر په ازاده فضاء کې وپیژني، ځان او

خدای درک کړي بیا یو کامل انسان کیدلی سي، ښتانه چې په فکري توګه د مذهب په دایره کې زندۍ کیږي او زندۍ شوي دي اوس هم لا پدې توانیدلي نه دي چې خپل خدای او ځان وپیژني، که وي هم نو ډېر کم ښتانه څوک به وي.
ښتانه چې د ویښ فکر خاوندان دي، په غیر مستقیم ډول له فکري بیداري څخه لري ساتل سوي دي، د مذهب په نوم افراط وربانديې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



تپل کېږي، هغوی چې ځانونه یې وپېژندل د خپلو ګټو لپاره په پښتو او پښتنو کې د ویښ فکر مشالونه او ډیوې وژني .
ایمان په ډېره نرمه لهجه خبرې پیل کړې:
مور. باید پدې پوی سو چې په رڼو سترګو ړانده یو او تر خپل کور پورې یواځې هغه لار راته مالومه ده چې ورباندې تګ راتګ کوو، او دا ډار راسره دی که یو قدم ها خوا یا دې خوا ته کېږدو خپله لار به ورکه کړو . لاکن داسې نه ده څنګه چې فکر کوو، که مور. په همدې لاره شا او خوا ته سترګې واړوو ډېر څه لیدلی او پیژندلی سو.
دا وخت میوند هم له حمامه راووت، په داسې حال کې چې ویښتان یې ږمنځول په خپل ځانګړې طنزیه انداز یې وویل:

ـ افغانان په یوه بله پلمه ځپل سوي او د تعلیمي او ښوونیزې برخې څخه لرې ددې لپاره ساتل سوي دي چې په فکري توګه ړانده، کاڼه سي، دلته له ملا څخه دا پوښتنه کول کفر دی چې (جنت ښه دی که فاریس؟) د ملا خپل اولادونه په لندن او فاریس کښې زده کړې کوي او زمور. اولادونه جنت ته لېږي که جنت تر فاریس ښه دی نو ولې ملا خپل زامن او لوڼې جنت ته نه لېږي ؟!
ـ خو اوس دوی دا وایي چې دا هیواد اشغال دی؟

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



عجیبه ده زه خو بیخي حیران پاتې یم دا څه احمقتوب دی؛ افغانستان ته د شوروي ځواک له راتګ سره ښوونځي، پلچکونه، لویې لارې، تعلیمي او د بیارغونې ادارې او ان تردې چې جوماتونه کافر سول، د جهاد په نوم د ورانۍ پروژه پر مخ یووړل سوه او همدا تراوسه پورې دوام لري، نن همهغه سور ځواک په پاکستان کې فوځي تمرینات کوي لاکن په سوالیه نظر کوم چا ورته وکتل؟!
میوند زیاته کړه:
ټرمپ سعودي ته ولاړ، د کعبې امام د نوموړي راتګ او ناسته د خیر او برکت ناسته وبلله، په افغانستان کې د امریکا څخه په مرسته اخیستلو افغانان کافران کېږي او وژل کېږي، دا اودغسې نورې ډېرې خبرې سته
هغه پخپل ځای خو له دې وروسته به "ټرمپ" حاجي ټرمپ حاجي صاحب وي.
ټولو په یو ځایي سره وخندل ...
او بیا همت وویل:
د ښمن د خپلو ګټو او بریالیتوب لپاره زموږ د هیواد ځوان نسل خپل ذهني غلامان ګرځوي، دوی تل هڅه کوي هغه کسان راڅخه واخلي چې په فکري او شعوري برخه کښې تر نورو شتمن وي، د حقایقو په لټه کښې وي،او همدارنګه هغه مشالونه مو وژنې چې د خپل ویښ عقل په رڼا کښې د تور او سپین څېړنه کوي .

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ به زرګونو زړور، باشعوره ځوانان او پېغلې د مذهب تر نامه لاندې د افراط په رسۍ کښې زندۍ کړل.
افراطیت په افغانستان کې د عقیدې او اعمالو له لحاظه ستونزې جوړې کړې دي همدا وجه ده چې بې ځایه قتلونه کيږي ښځې سنګساريږي، ډیوې او مشالونه وژل کیږي.
د هیواد او خلکو دښمنان له مذهب څخه په استفادې د ځان او سیاسي ګټو لپاره په حقیقت سترګي پټوي، د هغو کسانو لاس نیوی کوي چې په ذهن ړانده دي او په ړندو سترګو قضاوت کوي.

او دا باید ومنو چې، د اسلام دین وحشت نه دی؛ بلکې د تروریزم پرخلاف، د سولې، عدالت، ریښتیولي، فطرت، عقل او تفکر یو بشپړ دین دی، دا باید څرګند شي چې د ظالمانو او سرکښه خلکو د حاکمانو او همدارنګه د هغو سیاسي مذهبي ګوندونو په وجود کې چې په غیر مشروع ډول د ډار او افراطیت په وسیله پر خلکو، قومونو، ټولنې او قانوني دولتونو د قبضې او تسلط لپاره په تاوتریخوالي لاس پورې کوي او د خپلو جنایتکارانه موخو لپاره ملتونو او ټولنو ته مادي او معنوي تاوانونه رسوي.
ـ دا تورمخی سیاست او سیاسي لوبه په دې نه ارزي چې سپېڅلی دین ورپسې یاد کړل شي؛
سیاسي ګوند مشران ځان د هیواد نه بولي، هیواد د ځان بولي، تل تر هیواد او ملي ګټو وړاندې د ځان په غم کښې وي .

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



او همدارنګه سیاسي ګوند مشران تل په خوږو خبرو او ژمنو سره ځان تر یو ځایه رسوي، کله چې په ارامه څوکۍ کښېناستل خپله تنده د ولس په وینو ماتوي، ډېر کم داسې څوک به پیداکیږي چې له خپل ځان سره، سره د هیواد او خلکو غم ورسره وي، ماته تر ولسمشر او ټولو ګوند مشرانو هغه یو عسکر غوره

دی چې ددې وطن د خاورې او ولس د ساتنې لپاره په اوږي کښې تاوده لمر ته او د ژمي په یخنۍ کښې وږی، تږی په پوره ایمانداری سره خپله دنده ترسره کوي.
ولسونه چې خپلې وږې، تږې ورځ اخیستي وي په ړندو سترګو مزل کوي، په هر نوي ګوند او ګوند مشرانو باور کوي. که څه هم تردې وړاندې پخوانیو چارواکو ددوی ټوله شتمني له ځان سره وړې وي .
که د کوم هیواد ولس او چارواکې دواړه ځانونه د هیواد وبولي، ترځان هیواد او ملي ګټو ته ژمن ووسي په ربښتیا سره چې دوی به د یو خوبښ،کلک، شتمن او خپلواک هیواد اوسیدونکي سي.
موږ لا اوس هم که چا وویل " تو غوږ دې سپي یووړ " ددې پرځای چې غوږ ته لاس وروړو په سپي پسې منډې وهو.
اوهو په دا نیمه شپه د چا زنګ کېدلی سي؟!

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



همت کتاب کېښود، له ځایه پاڅېد، موبایل یې راواخیست او ځواب یې ورکړ، سلام! همت یم څوک یاست او څه خدمت مو کولای شم؟
ـ زه پوهېږم چې څه خدمت نشې کولای، که خوښېږي دې ژوند وکړې نو په کوچنۍ خوله لویې خبرې مه کوه ...

هغه په دروند غږ خبرې کولې او په لهجه کې یې زور ښکاره کاوه، همت ځواب ورکړ:
ـ ته غواړې څه ووایې؟ اخېر څه خبره ده ستا مطلب څه دی؟
ـ له هغو کسانو لرې ووسه، که داسې نشې کولای نو خپل مرګ ته دې چمتو شه ... د خدای په امان!
د همت له سترګو خوب وتښتېد، هرڅومره اړخونه یې چې بدل رابدل کړل، بیا هم ترسهاره اندېښنو خوب ته پرېنښود.
له ځایه پاڅېد او د هغه سمینار لپاره یې تیاری ونیو چې سبا ته په ولایت مقام کې "د بشري حقونو د نړیوالې ورځ " تر عنوان لاندې جوړېده.
ایمان او میوند ته یې زنګونه وکړل، درې واړو ناشته د ښار په یوه هوټل کې وکړه او له هغه وروسته د ولایت مقام په لوري روان شول.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډه پیل وه، دريې واړه د میوند د ناوختی له امله لږ څه ځنډېدلي وو، کله چې تالار ته دننه شول، ویاندوی ورته ښه راغلاست وویل او ددوی دريې واړو یې ځانګړې مننه وکړه.
دا وخت په افغانستان کې د بشري حقوقو د کمیسون یو غړي په سټیج بیانیه ورکوله " 'افغانستان کې د جګړو او تاوتریخوالي له کبله بشري سرغړونې شوې'

د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون د افغان جګړې له ښکېلو خواوو غوښتنه کوي چې جګړه او وینه توېیدنه بس کړي.
او پسې زیاته یې کړه، د افغانستان د جګړې د ختمولو ارزانه لاره بین الافغاني خبرې دي، او پکار ده چې موجوده لاسته راوړنې د سولې په خبرو کې قرباني نه شي.بیا یې د سولې په خبرو کې د جګړې د قربانیانو، ښځو او ماشومانو د حقونو په ساتل کېدو ټینګار وکړ.
تر هغه وروسته ویاندوی د همدې ولایت د جندر امره مریم سټیج ته وغوښته، مریم پخپل ځانګړې انداز سره خپل ویینتان او ټیکری منظم کړل، او د سټیج خواته لاړه، خپلې خبرې یې د ګډونوالو په مننه سره پیل کړې:" افغانستان کې د روانې جګړې او ټکني امنیت له امله د بشري حقونو وضعیت خواشینونکی دی."
مریم په پسته ژبه او خوندور طرز سره وینا کوله:

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



" تېرو شاوخوا ۱۱ کلونو کې په دې هېواد کې څه باندې ۹۲ زره ولسي افغانان د جګړې قرباني شوي دي."دې وویل، بشري حقوق او د ښځو حقوق باید د ټولو لپاره وي، د ترهګرۍ پېښو او کورنې تاوتریخوالي کې د وژل شوو ښځو قضیې دې وڅېړل شي.
او په افغانستان کې د جګړې ښکېلې خواوې باید د جګړې د قربانیانو په ځانګړې توګه د ښځو او ځوانانو غوښتنې واوري.
مریم په ډېر یو زبردست انداز سره خپلې خبرې را لنډې کړې او په دې ډول سره د تالار له ټولو اړخونو یې په ویاړ لاسونه وپړکېدل.
د غونډې ویاند له مریم مننه وکړه او همت یې د وروستي ویناوال په توګه دریځ ته وباله، همت دریځ ته له پورته کېدو سره سم خپلې خبرې داسې پیل کړې:
" یوازې هغه مهال خپلو ګډو موخو ته رسېدای شو چې ټولو انسانانو ته یو شان امکانات ورسېږي. "
تېرو دوو لسیزو کې نړۍ په افغانستان کې د بشري حقونو په تړاو د ناوړه پېښنو شاهده وه، چې انکار به ترې منطقي نه وي. پر ملکي موخو ځانمرګي او نور بریدونه د بشري حقونو د نقض یو مصداق دی. تېرو دوو لسیزو کې بېشمېره بمبارونه، ویجاړونکې جګړې، له هغو وسلو کار اخیستل، چې د ډېرې وژنې وړتیا لري، له اړتیا پرته له لویو بمونو ګټه اخیستنه د نړیوالو بشردوستانه حقونو ښکاره نقض بلل کېږي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دغه راز تېرو شلو کالونو کې په افغانستان کې د بشري حقونو لاسته راوړنو هېوادوالو ته په ځانګړې توګه ښځو او ځوانانو ته په سیاسي، علمي، فرهنګي، اقتصادي او ورزشي برخو کې ښه زمینه برابره کړه؛ دې چارې له نړۍ سره ونښلاوه او بیرغ یې د نورو هېوادونو تر څنګ ورپېد.

جنسیتي، قومي او نژادي تبعیض، له ښځو ناوړه ګټه اخیستنه او د قوم او نژاد له مخې کسانو ته د سرچینو محدودول په دې دوره کې د بشري حقونو د نقض بېلګې دي. دا باید له یاده ونه باسو، چې د جګړې پر مهال د بشري حقونو پر ضد ډېرې پېښې د افراطي او جمهوري نظام ضد ډلو له لوري شوې دي.

همت زیاته کړه، له بده مرغه افغان دولت تر اوسه پوري هم ندی توانیدلی چي یو جنګي جنایت کار محکمه کړي او له قانون څخه دغه معافیت نور کسان هم دې ته هڅولي چي بشري حقونه تر پښو لاندي کړي.

نو د بشر د حقوقو ورځ دې بشر ته په حق ورکولو ولمانځل شي نه په تشو شعارونو.

د جندر امره خصوصاً له همت او د هغه له خبرو څخه زیاته متاثره سوه، د سمینار تر ختمېدو وړاندې د هغه و خواته ورغله او په غوږ کې یې یو څه ورته وویل، کله چې سمینار پای ته ورسید مریم له همت سره د کافي ښځو پر مهال یوې خواته په مېز کښناسته او هغه یې زیات تشویق کړو، دا وخت همت او مریم یو بل ته په

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



روحاني حواله یو بل ته بیخي نږدې شوي ښکاریدل، مریم له همت څخه د اړیکې شمېره وغوښته، همت پرته له دې چې څه ممانعت وکړي خپله شمېره یې مریم ته ورکړه او له یو بل څخه یې رخصت واخیست.

د نن مازدیګر مجلس داسې سره پاشلی غوندې و، او ددې وجه هم د همت ګوښه والی و، د هغه په ذهن کې یوازې او یوازې د مریم ښکلې څېره تاوېده راتاوېده، دا وخت میوند هم چای راووړ او په خپل ځانګړي انداز سره یې ایمان ته په اشارې وویل، دا دی بچیش!! د زعفرانو چای مې درته راووړ.

که څه هم د همت د زعفرانو چای ډېر خوښ و خو نن یې داسې خاص لیوالتیا څرګنده نه کړه، په زړه او ذهن کې یې یو نوی احساس په ټوکېدو و، هغه شوخ او مینه ناک د مجلس مالکې همت نن یوې خواته غلی ناست دی او د هیڅ شي سره لیوالتیا نه ښیې، د هغه په ذهن کې د هغې ښکلې پېغلې څېره چې په شونډو یې یوه خوندوره مسکا کرلې وه ګرځي هغه له ځانه وتلی او روح د یوې بلې روح سره یوځای په دښتونو مزل کوي.

په همدې ډول زړه نا زړه ټول خپلو کورونو ته رخصت شول، همت هم ددې پرځای چې له ایمان سره په موټر کې لاړ سي، پیاده روان سو، خو د ایمان له بیا بیا ټینګار سره مجبوراً په موټر کې کېناست، په لاره کې یې د ایمان هیڅ یوې پوښتنې ته هم مثبت ځواب ورنکړ، همت په تکرار سره هم دا یوه خبره کوله، "یاره

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



جانانه دا دومره خبره نه ده، نه پوهېږم داسې یوڅه د سترړیا احساس کوم نور داسې خاص څه نشته" کور ته په رسېدو سره یې له ایمان رخصت واخیست او لاړ.
ماخستن هم پرته له څه خوړلو خپلې خونې ته لاړ، که کتاب ور واخلي، بیرته یې کېږدي، که تلویزون چالان کړي هیڅ یوه خپرونه یې نه خوښېږي، ریموټ ږدي، موبایل ور اخلي د مریم نمبر ته په کتو سره د "هو" او "نه" ترمنځ په جګړه اخته دی، زړه یې ورته وایي مریم ته زنګ وکړه او عقل یې ورته وایې، ګوره همت جانه داسې ونکړې، په همدې کش مکش کې د مریم زنګ راځي ...
ـ سلام! همت یم او تاسو؟
که څه هم دی پوهېږي مریم ده خو بیا هم پدې پوښتنه ټینګار کوي...
ـ ولې و مو نه پېژندم؟
ـ نه هیله کوم، که ځان دې رامعرفي کړې ډېره به ښه سي.
ـ مریم
ـ د جندر آمره (؟)
ـ بیخي ژر او په پوره توګه دې وپېژندلم او هو ربښتیا مزاحمت نه وکړم له خوبه خو به مې نه یې راویښ کړی؟
د مریم په لهجه کې د مینې او ناز یو په زړه پورې رنګ و ...
نه هیله کوم، څه خدمت مو کولای شم؟

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې خاص څه نه، یوازې غوښتل مې ږغ دې واورم، ته ډېر ښه یې!
همچنان
ښنه غواړم چې مزاحمت مې وکړ، اوس لپاره ښه وخت
داسې کومه خبره نه ده
په هر حال بیا خبرې کوو، خدای دې مل سه
او له دې سره یې اړیکه پرې شوه.
همت خپل موبایل داسې ټینګ په زړه پسې ونیو او بیا یې ښکل کړ، هلته مریم هم له یو عجیب احساس سره مخ وه، دا زه څه کوم په ما باندې څه شوي دي؟ زه ولې هغه سړي ته زنګ وهم؟ هغه څوک دی؟ لا خو زه هغه سم پېژنم هم نه؟ داسې څنګه کېدلای سي؟ خپل لیپ ټاپ یې راواخیست او د همت نوم یې په فیس بک کې ولټاوه، "همت آرین" د ملګرتیا بلنه یې ورته ولېږله او له دې سره سم یې میسج هم ورته وکړ "سلام ښاغلی آرین صاحب، مریم یم." میسج ولېږل سو، خو دا یې تر لېږلو وروسته له یو ډول پښېمانۍ سره مخ شوه او بیا یې د پروفایل په کتو بوخته سوه. د هغه لیکنې، شعرونه ، مقالې او انځورونه یې تر نظر تېر کړل.

یاره جانانه دا هرڅه څومره په بې خوندۍ سره روان دي .
ایمان په پرلپسې توګه میوند ته زنګونه وهل او ژر، ژر یې خبرې کولې:

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیوه ډېر وحشي ځناور دی، کله چې وږی او خېټه یې تشه سي بیا پرخپلو اولادونو هم خوله ور اړوي؛ دوی که هرڅومره د ښکار پر وخت یوه ډله ووسي، خو تر ښکار کولو وروسته یو د بل سره همغږي نه پاتې کېږي مګر سپی بیا دا عادت نلري، یو وحشي هیڅکله نرم مزاجه نسي کېدلی.
سپی تر هغو پورې له خپل کور او خاوند سره خیانت نه کوي ترڅو یې په وفادارۍ کښې لیونتوب ته نه وي رسېدلی؛ زموږ یو سپی چې د کورنۍ په نه شتون کښې مو د ګاونډ کره تللی اوس له ټولو مرور دی او بیخي مو په شناخت پېښمانه دی، نه پوهېږم چې ولې؟ یوازې هغه وخت لکۍ ښوروي چې کوم بل پردی څوک راسره ویني، موږ د خپل سپي په پخلاینه کښې په مکمل ډول پاتې راغلي یوو، دا ځکه چې دی غلط سوی او د انسان په څېر سرزوري کوي نو له انسان څخه ددې برعکس تمه(؟) دا هیڅ امکان نلري.
یوچا به دا خبره کوله: سپی په لویه تېره ووله چې تر ډېرو کوړنچیږي خو زه بیا دا وایم چې سپی وپاله ترڅو پالنه دې وکړي؛ ډار له لېوانو پکار دی چې هیڅکله له خپل وحشي عادت څخه نه راګرځي.
همت که څه هم نه پوهېده چې ایمان ولې او د څه لپاره د سپي او لېوه په اړه خبرې کوي خو بیا یې هم هغه ته ښه کلک غوږ نیولی و.
ایمان همداسې لګیا و:

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د دې نړۍ له ټولو وحشي لېوانو هغو سپو ته پناه راوړه چې د ټولو اهلي حیواناتو ترې کرکه کېده، زه په دې ښه پوهېږم چې لېوان سپی خپل اولاد بولي خو داسې نه ده ، ځکه لېوه خپل بچیان خوري او سپی یې د ځان په څېر پالي؛ څېره د چا باطن ته ورته نسي کیدلی که څه هم سپی او لېوه د یو بل همشکله دي خو سپی د ښار او ښکار لپاره په کورونو کښې پالل کېږي او لېوه بیا برعکس.

همدارنګه سپی په یو کال کښې مکمل سړی سي، خو انسان تر څو کالونو پورې سړی خو څه کوې هسې په نوم انسان هم نسي کېدلی، زه د سپي په نن، سبا او نورو ټولو ورځو باوري یم، که څه هم انسان عقل لري خو تر سپي هوښیار نه دی؛ سپیان ډېر ښه خلک دي په هرچا کار نلري، هرڅه په ځان منلی او زغملی سي، سپی په ټولو هغو انسانانو ملامت دی کوم چې دی یې په کاڼو ویشتلی.

همت په طنزیه انداز ورغبرګه کړه، یاره نو؛

اوس که ته غاپې او که نه غاپې، سپی څوک ددې لپاره ساتي ترڅو خپل او پردي دواړو ته که شپه وي او که ورځ باید وغاپي، له سپو څخه د انسانیت تمه کیدلی سي، خو له انسانانو څخه د انسانیت تمه څه چې د سپو تمه هم نه سي کېدلی، ځکه سپی ایماندار دی، وفادار دی او دې ته ورته نور ډېر ښه خویونه لري خو انسان که ایماندار سي، وفادار به نه وي او که وفادار سي ایماندار نه دی، دلته د وفا او ایمان دواړو تر وخت مخکې لا سودا سوې ده .

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو زه هم همدا وایم
د خدای په دا دومره خدایي کې تراوسه پوري پر ما باندي یو ښه خروړی سپی پیرزو نه سو، نه پوهېږم.
چې زما بخت کومې تورې پېشو څټلی که څه بلا ؟!
بیخي بل وړ کیسه ده، دلته بیا دا نیمچه او تازي سپي دومره ډېر دي چې په کومه کوڅه راوګرځې یوه دوه خو به خامخا ووینې، هغه هم ښه شوقي چې خوندور غړوندي یې هم په غاړه وي.
تازي سپی وساته، خدړ یې بیا څه دی ها؟
ـ اوس نو په تازي سپي څه اعتبار پکار دی، هغه که هرڅومره ښه ښکار کولای سي، بیا هم څښتن ته هغسي وفادار نسي کیدلای لکه څرنګه چې خدړ سپی وي.
ته بیا د قدرت دې اړخ ته وګوره، چې زما بیا په ټوله کښې له خدړ سپي سره جوړه ده، دا په دې چې خپل او بل دواړو ته په یو نظر ګوري او همدارنګه د وچې او لمدې مړی فکر ورسره نسته، خپله دنده په ښه توګه سرته رسوي، همدا د یو ښه سپي خاصیت هم دی چې شپه او ورځ څک غوږونه ونیسي بیدار وي.
دوی دواړو لا همدا خبرې کولې چې میوند هم راورسید، ایمان په داسې غصه ناک انداز هغه ان تردې چې سلام ویلو ته یې هم پرې نښود، ته چیرته وې او تلیفون دي؟ ته وګوره چې څومره زنګونه مې درته وهلي دي؟
چیرته وې ها! په خدای ما خو به لیونی کړئ

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا بيخي بې خونده ده، د رڼا او تورتم په دې نامعلوم سفر کې هيڅ نه پوهېږم مخ په ښي او که چپ لور ته وګرځوم؛ په هرحال د سپين او تور ترمنځ فرق ازلي دی.

همت ورغبرګه کړه " زموږ خدای ماته هم عقلي وزر راکړي، زه دا حق لرم چې د خپلو وزرو په واسطه څومره چې کولای سم هوا وکړم، والوځم، چيرته چې مې زړه او روح خوشاله وي وګرځم؛ دا مهمه نه ده چې په باغ کښې دي ارومرو رڼې اوبه بهيږي، بې له هغو هم کيدای سي يو باغ ډېر څه ( ارامتيا، ښايست او... )ولري که څه هم په خړو به اوبه کيږي."

سمه ده تاسو چې هرڅه کوئ، هرڅومره چې زما زغم اندازه کوئ درته اجازت ده خو زه بس دومره وايم چې دا زموږ او تاسو جنګ د يو ککړ ذهن له سرچينې دی، انسان يو دی د ښه او بد توپير سته دا سمه ده، مګر په حقيقت کښې ټول کاينات انسان ته په يوه سترګه ګوري.

ما د يوې ناروا لارې لمن نيولې ده، او زه په دې ښه پوهېږم چې روا لار موجوده وي په ناروا باندې تګ ستره ګمراهي ده، نو له دې څخه دا معلومه سوه چې موږ (زه) په همدې نړۍ کښې ترټولو ګمراه مخلوق يم.

او د همدې خبرو سره سم ايمان له کوټې ووت، بيرته يې دروازه راخلاصه کړه او همت ته يې وويل، که کولای شئ نو په همدې اړه فکر وکړئ .

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ یاره بیخي بل وړ دی، تولـه ورځ د خپل سپي په اړه خبرې کوي، ښه نو ته ووايه ستا شپه څنګه وه؟ "همت وویل"
ـ ښه وه، ایمان چیرته لاړ؟
ـ زه هم نه پوهیږم خو حالت یې ښه نه و، بیرته به راسي، هله نو میوند جانه ته خو لږ د زعفرانو چاى اماده کړه یاره بیخي ګنګس یم.
په همدې وخت کې همت ته د مریم زنګ راغی او هغه یې نږدې پارک ته وباله، پرته له دې چې میوند په اصلي موضوع پوه کړي له ځایه پاڅېد او وې ویل "زه یو اړین کار لرم، ترڅو چې ته چاى اماده کوې بیرته راځم " او له همدې خبرې سره ووت.
میوند د کابل چاپ ورځپاڼه ورپورته کړه؛ لیکلي و، 'داسې سوله نه غواړو چې د امنیتي ځواکونو د برخلیک ضمانت نه کوي'
افغان ولسمشر د افغانستان د پخواني پاچا محمد داود خان د واکمنۍ پر مهال تېروتنې ته په اشاره وویل، "هغه مهال چې د سیمې په سیاست حکومت خبر نه و او د همدې بې خبرۍ په نتیجه کې د ثور د ۷ فاجعه رامنځ ته شوه، دا تېروتنه باید بیا تکرار نه شي.
په دا منځ کې قریب دوه ساعته ووتل خو همت رانغی، د زعفرانو چاى په ترموز کې سوړ سو، میوند د همت نمبرو ته چې هرڅومره زنګونه وکړل ځواب یې نه ورکاوه په همدې وخت کې د دروازې زنګ ووهل سو، "لکه چې راغی " میوند دروازه بیرته کړه او په زغرده یې وویل "احمقه دا تلفون ولې نه ځوابوې؟ " د ایمان په

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدو لږ څه خجالت هم سو، خو ژر یې خپله خبره بشپړه کړه " ما فکر وکړ همت دی، هغه احمق دا دوه ساعته کېږي چې وتلی او تلفون هم نه ځوابوي "

ـ راځه پرېږده یې را به شي، هغه نو بیا کله داسې ښه کار کړی.

میوند د زعفرانو له چایو پیاله ورډکه کړه "دا مې هم د هغه احمق په فرمایش چمتو کړ "

ایمان له لږ څه سوچ وروسته خپلې خبرې داسې پیل کړې:

ـ یو عجیب خو خوندور سر درد راته پیدا سوی دی، له هرې څړیکې یې خوند اخلم، دا چې د کوم لیونتوب پایله ده (؟) څنګه او څه وخت مې سر په دیوال وهلی خبر نه یم(؟) دومره ضرور پوهېږم چې لږ څه پاړسوب یې کړی؛ نو پدې کې د خوند خبره څه ده؟ "میوند وویل"

په دې کښې د خوند خبره داده چې دا څو شپې په ښې اړخ پرېوتلی نه سم، اوس باید په چپ اړخ ویده سم، د چپ اړخ د خوب فایده داده چې مخامخ کړکۍ ده او تر ډېره پورې د هغې تورې تیارې ننداره کولای سم، همیشه داسې وي چې شپه په وینه د سهار غېږې ته ورم؛ زه او زما خدر سپی دواړه اوس د رڼو سترګو په خوب اموخته سوي یوو، دی تمامه شپه په اټکل غاپي او زه یې له دې غپا غپ څخه خوند اخلم، که کله کرار سي زه یې بیا وشکارم، ځکه سپی باید وغاپي، په کراره پرېوتو ښه نه ښکاري.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ یاره یو خو ستا دا د خدړ سپي موضوع بیخي تکراري سوه، ته کومه بله غوره موضوع هم لرې او کنه؟ "د میوند په لهجه کې شرارت و"
څه ووایم او څه نه ووایم، رڼا او تورتم دواړو خپل اصلي حالت له لاسه ورکړی دی، اوس په دې پوهېدل ډېر سخت دي چې د ورځې او شپې تر منځ حقیقي توپیر درک کړل شي...
ـ سخت فلسفیانه لغاتونه استعمالوې
د لغاتونو، معنا پخپله په معنا پسې ستړې ده او په دې نه پوهېږي چې د ځان را پیدا کولو لپاره څه وکړي؟
خصوصاً "زه" د یو داسې لغات په معنا کولو پسې ورک یم چې په حقیقت کې "هیڅ" معنا نه لري .
ـ د قدرت تر ټولو ستره غلطي هم دا کېدلی شي چې د لغات او معنا ترمنځ یې روڼ توپیر څرګند نه کړو.
ایمان زیاته کړه، د تور او سپین کیسه هم په همدې ډول مختله وړل شوې ده
پوه نه شوم؟
اوس به څوک دا هم نه وایي چې زه نه پوهېږم ځکه موږ په دې ښه پوهېږو څوک چې وایي نه پوهېږم هغه تر بل هر هغه چا ښه پوهېږي .
ـ ته سپین یې او که تور؟ زه لا تر اوسه ددې سوال ځواب نشم درکولای، خو دومره به ضرور ووایم چې هر رنګ د کوم بل رنګ

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مرسته منځ ته راغلی، همدارنګه تور د سپین او سپین د تور په مرسته هغه که هر ډول وي د رنګ له سرچینې څخه اخیستل شوی، اوس په رنګونو کې د ښه او بد توپیر په کومه مانا کېږي، په دې یې هم نه پوهېږم .

- حقیقت دا دی چې کوم څه مو په زړه او سترګو ښه راسي ښه دي او بد یې برعکس د هغه، دا چې زړه او سترګې څه ډول فیصله کوي دا بېله مسئله ده خو د عقل ساری په ټول انساني او طبعي جوړښت کې نه موندل کېږي ، دلته نو د خدایي قدرت هم بریتونه غوړ وبوله. "میوند په خپل طنزیه انداز سره خبره تکمیل کړه ."

- سپین که تور راپېژندل شوی وای نو اوس به مو تور ته سپین او سپین ته تور ویلای، دا یواځې د رنګونو تفاوت نه دی چې مونږ یې ګډوډ کړي یو، بلکې دا زمونږ د خامو فکرونو زېږنده ده چې سپین مو په توره او تور مو په سپینه ځغلي.

میوند پوښتنه وکړه:

زما په دې هیڅ سر نه خلاصېږي چې سم او ناسم پخپل منځ کې کوم توپیر لري او که نه ؟

خو همدا مشکل دی که چیري سم او ناسم پخپله ټاکلي لاره تللي وای هرڅه ثابت پاتې کېدل، زمونږ تر ټولو لویه ستونزه هم دا کېدلی شي چې ځان ته لاره ټاکل راته ستونزمن ښکاري خو دې ته نه ګورو چې د بل چا په پلونو تګ خطرناک هم کېدلی شي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوڅ خلک تل په دې فکر کې وي چې د نورو لپاره جامې پيدا کړي او هغوی په دې وپوهوي ترڅو کوم ډول جامې يې په رښتيا سره هم پټ ساتلی شي.

دا ټولنيز اصول او قواعد دي چې موږ له فرهنګي دود سره سم ووسو، خو دلته سوال دا پيدا کيږي، يو فرهنګ چې بايد له هغه سره سمه رويه وشي کومې ځانګړنې ولري، عموماً فرهنګ له وخت تېرېدو سره سم ورو، ورو تغير او وده کوي، ويښ خلک يې له تغير او تبديل سره سم په سمه حرکت کوي او ويده خلک ترپخوانيو کړنو کرښې تاووي او بدلون يې د ځان په شر ګڼي.

همدارنګه هر مذهب په سيمبوليک ډول تقريباً له ټولو هغه ځانګړنو تکميل شوی چې د انسان په ګټه تماميږي او د وخت له تېرېدو سره يې استفاده کولای شي، انسان پرمختګ کوونکی دی او هره ورځ د يو نوي څه په اړه فکر کوي. "ايمان په تفصيل سره خبرې وکړې "

همت او مريم تر ماښام قضا پورې د يو بل سره په مجلس کولو کې ورک وو او په نامعلومو دښتو او سرابونو يې مزلونه کول، مريم دا غوره وبلله چې همت هم نن شپه له دې سره د هغوی کور ته ولاړ شي.

ځکه مريم دا ډېر وخت په کور کې تنها اوسېده، کورنۍ يې هندوستان ته په ژمنۍ رخصتي تللې وه، يوازې دا د خپلې دندې په خاطر پاتې وه، همت هم ډېر ژر ورسره ومنله او ميوند ته يې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



تلیفون وکړو چې زه په خپل کور کې یم او په ماپسې اندېښنه مه کوئ.
او له همدې سره یې کور ته هم زنګ وکړو چې زه نن شپه د میوند دوی سره یم.

همت او مریم دواړه کرار، کرار په پیاده رو باندې روان شول، د خوراک، څښاک څه ضروري سامان اخیستلو وروسته مریم ټیکسي ته لاس ورکړ خو همت دا غوره وبلله چې په پښو لاړ سي، د مریم کور یو څه لرې و نو په همدې خاطر یې ټینګار وکړ او په ټیکسي کې کېناستل، په لاره کې که څه هم دوی هیڅ نه سره وویل خو د یو بل له شتون یې خورا ډېر خوند اخیست.
کور ته له رسېدو سره سم یې همت کوټې ته بدرګه کړ او دا پخپله د پخلنځي خواته لاړه .
همت د کوټې ځانګړې نظم او ډیکوریشن ته په کتو کې غرق تللی و، او هر یو شی یې یو، یو تر نظر تېراوه، په تېره بیا په دیوال راځوړند د یوې ماشومې هغه تصویر ته چې د شارشمو په کښت کې ولاړه وه د همت پام یې ځان ته کړ، په همدې وخت کې مریم هم کوټې ته راغله او یو څه خواړه یې هم له ځان سره راوړل.
- ښه نو دا هرڅه دومره ژر ولې؟
- اصلاً زه خپله ډېره زیاته وږې سوې ومه، نو ځکه مې دا ښه وبلله چې لومړی باید یوڅه وخورو.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې د پسه غوښه او وریجې تیارې کړې وې
همت په خوړو کې د مریم د لاسونو خوند له ځان سره ونیو او ترپایه یې هرڅه ډېر په خوند سره وخوړل " زه وایم که نور هم وای ما به خوړلي وای که څه هم تردې وړاندې مې هیڅ د لوږې احساس نه کاوه خو د غوښې او وریجو دا جلا خوند " میوند داسې ژر ژر خپلې خبرې وکړې او لاسونه یې پاک کړل.
ـ پام مې نه و، په وریجو کې نمک یو څه زیات سوی او غوښه څنګه وه؟
ـ نه، نه هرڅه بیخي سم و، زما خو یې مالګې ته هیڅ پام نه دی شوی دا چې ته وایې نو کېدای شي.
مریم د خوراک لوښي پخلنځي ته یوړل او له بېرته راتلو سره سم یې وویل، همت جانه چای به بیا لږ څه ناوخته وکړو.
همت د هغې نجلۍ عکس ته چې د شارشمو په کښت کې ولاړه وه په اشارې وویل:
ـ دا!!
پرته له دې چې نور څه ووایي، مریم یې په خبرو کې ور ولوېده "هیله کوم همت جانه د همدې په اړه مه پوښته."

په دې وروستیو کښې ډېر یو خوندور څه ته اړتیا لیدله کېږي، اوس خبره داده چې "خوندور" بیخي نسته او تر دې ټولو خوږو نن سبا

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترخه ښه دي، لږ تر لږه د خولې خوند سمولای سي، د خاورو خوراک مو په برخه دی نه يې ښه خوند سته، نه يې بد ...
ځوک دي دا خبر د چا تر غوږ ورتېره کړي چې د زمانې خدای په بندګي نيولي يوو، خو زندګي رابښلی نه سي.
ايمان له خپل ډک زړه دا خبرې په داسې حال کې راويستې چې کينې لاس يې په چاړې سره غوځ کړی و.
ميوند چې له غصې تک سور اوښتی و، ايمان ته يې په تونده لهجه خبرې کولې "ايا دا سم کار دی؟ "
زه نه پوهېږم چې ته څه کول غواړې او ولې داسې ليونتوب کوې اخېر دا څه دي ايمانه؟
ــ زه مې له خپلو ليونتوبونو خوند اخلم، ما پخپل حال پرېږده!
ميوند مخامخ ځوکی سمه کړه او په ډېر ټينګار سره د "هيڅ" په لفظ زور راووړ، او وې ويل: دا هيڅ مانا نلري ...
ايمان ځواب ورکړ:
هو همدا دا د هيڅ کيسه يو څه شننه غواړي او زه دومره ښه شنونکی نسم کېدلی چې د "هيڅ" په معنا دې پوه سم او بيا د دومره ستر کايناتي قدرت په شتون کې د هيڅ په اړه پلټنه هم هيڅ ده، موږ ټول د بشر يو ژوندی تاريخ بيانوو او دا روان حالت د بشر په يو بشپړ عقل کې لويه بې عقلي بيانوي، دلته نو د بشر ټول هغه څه چې دده په عاقلتوب دلالت کوي د هيڅ سره پرتله کېدلی سي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



میوند ورغبرګه کړه ایمانه اخېر څه شوي دي ته خو ووایه هیله کوم؟
ـ د یو لوی قدرت او لوی رحمت تر منځ چې کومه تېروتنه موجوده ده، او ددې تېروتنې د حل او له منځه وړلو لپاره تر ننه پورې چا هم لږ ذره هڅه نه ده کړې او که چا کړې هم وي د مذهبي تعصب ښکار به ګرځېدلی وي. زه د یو شي په اړه ډېر فکر کوم او هغه په انسانیت کې د وحشت فلسفه ده، حال دا چې په انساني کرامت کې "هنر" هم شتون لري.
میوند په داسې حال کې چې لاسونه یې په دسمال سره وچول، او د باندې تلو ته یې ځان اماده کاوه، وې ویل، هله نو ایمانه راځه چې ځو زه بیخي ستړی شوم، نن په هیڅ هم نه پوهېږم، هله نو راځه چې ځو ... او د تورې شپې په ارامه فضا کې ایمان او میوند دواړه کرار کرار د ښار په واټونو کې روان شول.

مریم په ژور فکر کې د خپل ماضي په اړه تللې ناسته وه او په خیال کې یې پخوانۍ دردونکې کیسې تلې راتلې، په تېره بیا هغه وحشتناکه پیښه، په کومه کې چې د هغې خاوند او لور یې دواړه وژل شوي وو، دا ډېره یوه دردونکې پیښه وه چې اوس یې هم د مریم په سترګو کې اوښکې راوستې، همت چې لا هم د مریم له ماضي خبر نه و، په لیدو یې حیران شو او په مریم یې غږ کړل:

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



_ مریم جانې، څه خبره ده، هیله کوم داسې څه خبره ده چې ته یې په اړه فکر کوې او ژاړې؟!
ــ داسې کومه خبره نشته، بس هسې لږ ...!
او پسې زیاته یې کړه، که خوښه دې وي یوه شېبه به د باندې ووځو.
همت "سمه ده "په اشارې سره تمثیل کړه .
روښانه سپوږمۍ د کابل ښار ته لا ډېره زیاته ښکلا وربښلې وه او دا ښکلا د ننداریې وړ وه.

یوه شېبه دواړه غلي او کرار کرار روان وو، مریم د خپلې زړه تنګي زور نور برداشت نه شو کړای او په خبرو یې پیل وکړ:
ــ په فکري عیاشي کې ډوب خلک تل په ماضي ویاړي، مګر زه د پرون له عقل او منطق دواړو سره څکه خلاف یم چې پرون، پرون و او نن، نن دی.
مګر ته څه وایې! زه هیڅ پوه نه شوم، همت پوښتنه وکړه؟
ـ زما مطلب دی؛ اوس هم که څوک د ماخستن په اړه پوښتنه راڅخه وکړي چې ته چیرته وې زه یې له یاده باسم او هسې یې ترځان تېروم، دا ټول هغه څه دي چې زموږ او ستاسو ترمنځ په ورځنیو اړیکو کې پېښیږي.
ــ هو په خدای، ته رښتیا وایې؛ دا سمه ده چې د ماضي (پرون) ځینې شېبې په یادولو ارزي مګر دومره هم نه چې د حال (نن) څخه وراندې بې برخې سو، دا خبره مې له یوې ډمې اورېدلې وه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل یې ژوند پرونی ماخستن نه و، ژوند همدا نن سهار دی چې وزرې مې آزادې دي او کولای شم والوځم.
مریم په داسې حال کې چې سترګې یې له اوښکو ډکې وې وویل؛
حوا مې لور وه!
دوی دواړه یو بل ته ډېر ګران وو، بلکل همداسې د خپل دې ګرانښت قرباني هم شول، ریان یو ډېر ښه هلک و، په هغه زه ډېره ګرانه وم، بیخي ډېره، په ما هم ګران و، د پوهنتون په دوره کې مو له یو بل سره وپېژندل او بیا کیسه مینې ته ورسیده، هغه رابانديې مین و او یوه ورځ یې هوټل ته وبللم، د مینې اظهار یې وکړ، کیسه واده ته ورسېده، مور واده وکړ ... او له دې سره غلې سوه.
همت د پوهېدو هڅه وکړه خو څه یې ویلای نه شول.
مریم په داسې حال کې چې خپلې اوښکې یې پاکولې زیاته کړه؛
یوه ورځ سهار وختي دفتر ته روان و، چې حوا یې غېږ کې واخیسته او هغې وغوښتل چې دفتر ته ورسره ځي، ریان هم ومنله، ټول نیم ساعت لا نه و وتلی چې ماته د ریان له نمبره زنګ راغی، کوم بل چا خبرې کولې، ریان ټکر کړی و، ریان په روغتون کې و او کله چې د روغتون پته مې واخیسته، شېبه وروسته د ریان او حوا جسدونو ته ولاړه وم، ریان او حوا دواړه ....
د مریم له لاسه موبایل ولوید، ځان یې نور له کنترول وتلی و، بلاخره مریم په ځمکه ولوېدله چې همت یې لاس ونیو او په غېږ کې یې واخیسته.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



همت چیغې وهلې، مریم! مریم! مریم!
موټر ته یې لاس ورکړ، نه درېده، ټیکسي هم نه، همت مجبوره شو؛ هڅه یې وکړه چې مریم راسمه شي خو ... روغتون ته له رسېدو سره سم، کله چې تر سرک بلې خواته اوښت، یو موټر چې ډېر په بیړه د دوی خواته رانږدې کېده، د همت له ډېر کوشش سره سره بیا هم له ورسره ولګید، دواړه بې هوښه شول، په بیړنۍ خونه کې تر څو ساعته عملیات وروسته، مریم را په هوښ شوه، خو همت خپل ژوند له لاسه ورکړ.

د همت تر مړینې وروسته حالات ټول برعکس شول، ایمان او میوند نور د پخوا په څېر نه وو، موسیقي یې نه اوریده، تلویزون یې نه شو لیدلی، ټولیزې رسنۍ ټولې د همت د ښکلې او زړه وړونکې څوانۍ له عکسونو ډکې وې، فیس بک، ټویټر، انسټاګرام او ...
د مریم صحت ورو، ورو په ښه کېدو و، خو لا هم په روغتون کې تر درملنه لاندې وه، نن چې ایمان د مریم لیدو ته ورغلی و، هرڅه بیخي بل وړ ورته ښکاره شول، کله چې یې ولیدل مریم په خپل بستر نه وه.
ایمان په بیړه د نوکرې وال اطاق ته ورغی او د مریم پوښتنه یې وکړه، ډاکتران، نرس او د روغتون ټول کارکوونکي حیران پاتې شول، مریم په رښتیا سره هم په اطاق کې نه وه، هغه له خپله ځایه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتلې وه، د روغتون انتظامي پولیسو ته خبر ورکړ او هم خپله د مریم په لټه کې شول.
د ایمان په زړه کې یو څه ور تېر شول، موټر ته وخوت او په منډه له روغتون څخه د هدیرې په لور وخوځید.

مریم د همت په قبر ناسته وه او چیغې یې وهلې :
زه دې چاته پرېښودم، زه نه پوهېږم دا هرڅه څنګه وشول، زه به مې هیڅکله خپل ځان و نه بښم، ددې هرڅه ذمه واره زه یم! هو! هو! زه یم، دا هرڅه ما وکړل ...
دا وخت یې ایمان په اوږه لاس ورکیښود، که ګوري د مریم په سپین مخ اوښکې را روانې وې، نور یې ټول طاقت اوبه، اوبه شو او مریم یې په غېږ کې ونیوه، کله چې یې د هغې سوې چیغې تر زړه ووتې په سترګو کې یې اوښکې راغلې خو ددې لپاره چې مریم ته تسلي ورکړي، اوښکې یې پټې تر ستوني تېرې کړې او مریم ته یې وویل:
ـــ مریم!
دا هرڅه د څه لپاره؟
اوس خو همت په چیغو سره بیرته راګرځېدلی نشي، هیله کوم نور بس کړه، هغه ستا دعا ته ضرورت لري، بس کړه هله نو راځه چې ځو، ته لا اوس هم بشپړه ښه سوې نه یې ...

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریم په تلو تلو کې د همت قبر ته څو واره مخ ور واړوه، کله چې په موټر کې کېناسته په خبرو یې پیل وکړ:
زه بدبخته یم، په رښتیا هم بدبخته یم، لومړی ریان، حوا او اوس بیا همت، همت زما بدبختۍ وواژه، که چیري د هغه پېژندګلوي زما سره نه وای شوې، داسې به نه کېدل، داسې به نه کېدل...
او په لنډه توګه یې ټوله کیسه د ایمان مخې ته کېښوده.
ددې پرځای چې روغتون ته لاړ شي ایمان د خپل کور مخې ته ودرید او روغتون ته یې د مریم د پیدا کېدو خبر ورکړ، وروسته یې هغه له ځان سره کور ته راوسته، ځای یې ورته سم کړ.
مریم؛ زما په نظر ستا لپاره به دا غوره وي چې ته اوس ارام وکړې او که څه ته دې اړتیا وه راته ویلی شې، دا ستا خپل کور دی، نور به ته هیڅ چیرته نه ځې، تر څو چې ښه شوې نه یې.
ایمان په کابل کې خپل یو ځانګړی د کرایې کور درلود چې اکثر وخت به یې د خپلو ټولنیزو فعالیتونو لپاره ددفتر کار ترې اخیست.
ایمان چې د ټولنیزو او سیاسي فعالیتونو سره سره یې له یوې تعلیمي موسسې سره د مرستیال په توګه کار کاوه،له همدې ځای څخه ووت او دفتر ته لاړ، دفتر ته له رسیدو سم یې په میوند سترګې ولګیدې، میوند مخکې له مخکې د ایمان راتلو ته سترګې په لاره و، له سترې مشې وروسته دواړه کېناستل او خبرې یې پیل کړې، څه باید وشي او څه نه ؟! ایمان وویل.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دفتر خدمتګارۍ ددوی دواړو مخې ته چای کېښود او فضا یې د خپلې غېږ په عطرو سره خوشبینه کړه ...
میوند ځواب ورکړ:
ــ موږ چې دلته د ژوند او مرګ ترمنځ د یو عظیم دوزخ تجربه کوو، هره ورځ مو لار په همدې پُل صراط وي، د ګناه او ثواب په غلط فهمۍ کې راګیر مخلوق هغه فیصلې چې یوازې او یوازې په خدای پورې اړه لري دوی یې پخپله کوي، دا هرڅه د یوې لویې خطا په بنیاد ترسره کېږي، او دا به هغه وخت ثابته شي چې له همدې ګنې، ګونې لږ څنګ ته شو .
ایمان ورغبرګه کړه:
ــ ډېر کم وخت انسان په دې پوهېدلی شي چې همدا اوس په کومه شېبه کې ولاړ دی او ژوندکوي ځکه انسان عموماً یا خو مخکې سوچ کوي یا وړاندې حال دا چې د همهغې شېبې او وخت په اړه فکر کول ضروري دي په کومه هغه کې چې ژوند کوي.
میوند چې د خپل درد د اظهار او د همت ارین تر مړینې وروسته له یو ډول ذهني کشمکش سره لاس او ګریوان و، نه پوهېده چې څه ووایې او څه نه، زیاته یې کړه:
ــ دا بیخي بل وړ ده چې زه د "بیخي بل وړ کیسو "په اړه غږېږم، پکار خو داسې وه چې ما هم په هغو مسائلو فکر کړی وای په کومو هغو چې نور خلک فکر کوي، مګر نه داسې نه ده ځکه چې

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته هرڅه د داسې یو ډول بیخي بل ور حالت درلودونکي دي کوم چې تر شا یې یو خوندور حقیقت پټ ساتل کیږي.
د دوی ترمنځ لا مباحثه روانه وه چې ددفتر خدمتګارې ایمان ته موبایل راوور "مریم" ستاسو سره خبرې کول غواړي!
ایمان موبایل غوږ ته ونیو، سلام! ایمان یم تاسو څوک؟
ـ مریم خبرې کوم، ددې لپاره چې ستا نمبر راسره نه و، ددفتر نمبر مې له انټرنېټ څخه پیدا کړ او درته مې زنګ وکړ، هیله کوم ځان بیخي یوازې احساسوم، که کېدای شي غرمنۍ به یوځای وخورو.
ایمان ځواب ورکړ، هڅه کوم او ته دې پرځان پام کوه!
له همدې ویلو سره یې اړیکه پرې کړه او موبایل یې خدمتګارې ته ورکړ.
میوند ته یې مخ ور واړاوه او ورته یې وویل " مریم بیخي زیاته ځوربدلې ښکاري، ریان او حوا په اړه یې یادونه وکړه، هغوی هم تردې وړاندې په یوه ترافیکي پېښه کې وژل شوي او نن بیا همت ... "
میوند ځواب ورکړ " ریان؟! "
زه خو پوه نه شوم تاسو د کوم ریان او حوا یادونه وکړه؟
ــ پرېږده یې، خو د آیمان له بیخي ډېر ټینګار سره یې په لنډ ډول د ریان او حوا کیسه ورته تېره کړه.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



او له ترخو او سترېو ساګانو سره دواړه ولاړ سول او له یو بل نه یې رخصت واخیست.
ایمان ددفتر کارکوونکو ته تر اړینو هدایاتو وروسته کور ته روان شو، په لاره کې د خوراک لپاره یوڅه واخیستل، کله چې کور ته ورسید، که ګوري مریم په څوکۍ ناسته ده او له لاس نه یې وینې بهیدلې دي.
چیغه یې کړه، آخ دا!!
مریم دا څه دي، هیله کوم یوڅه ووایه، ژر یې ایمرجنسي بکس راواخیست او د مریم لاس یې ورته پلستر کړ، "دا هرڅه څنګه وشول؟ "
مریم ځواب ورکړ " خوند راکوي، ما پرېږده چې ځان ته په عذاب ورکولو سره له خپل قسمت نه غچ واخلم "
آیمان ته د خپل غوږ کړل شوي لاس کیسه وریاده شوه او پسې زیاته یې :
ـ بس که مریم دا هرڅه نور بې مانا دي، ته دي دې حالت ته وګوره، تا له خپل ځان سره څومره وحشت کړی؟
مریم ځواب ورکړ: ما پرېږده او زما قسمت او همدا بهتره ده، زه فکر کوم، وحشت یوه ډول محبت دی او دا کېدای سي د هغو وحشیانو عادت ګرځېدلی وي چې په دا رنګه مینه کې ښکېل وي.
ایمان په قهر سره د مریم لاس تاو کړ او ورغبرګه یې کړه " ګوره مریم ددې خبرې در په یاد کول اړین بولم، هغه کسان چې وحشت

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې مينه ده خپل عادت هيڅکله پرېښودلی نشي او له دا ډول کړنو خوند اخلي، څوک چې له کوم عادت څخه په خوند اخيستلو اموخته شي، تداوي يې کلونه، کلونه وخت نيسي، لکه څرنګه چې د يو ليوه اهلي کېدل بيخي سخت دي همدارنګه د يو وحشي انسان اهلي کول هم سخت کار دی.
وکړم ته وو ايه زه څه وکړم؟، همت ولې لاړو زه يې ولې پرېښودم، زما ارمانونه يې له خاورو سره خاورې کړل ...
او بيا يې په زوره چيغه کړه "خدايه زه به تا هيڅکله و نه بښم، تا له ما نه هرڅه واخيستل..."
د نن سهار پيل د ميوند او ايمان په مجلس پيل شو، کله چې ايمان له خوب راپاڅېده، ميوند لا وختي د ايمان په کور کې ناست و، دا د ايمان لپاره حيرانونکې نه وه، ځکه هغه پخوا هم داسې بې وخته او سهار وختي د هغه ليدو ته راته ...
ايمان چې د چای په ګيلاس کې بوره اچوله، تلويزون ته په کتو سره حيران پاتې شو، او بوره يې په ځمکه تويه کړه، په تلويزون کې خبر و:
"د پښتون ژغورنې غورځنګ مخکښ غړی ارمان لونی ووژل شو"
او له همدې سره د ايمان له خولې يوه سوې چيغه ووته " آخ خدايه دا څه اورم، ارمان څنګه وژل کېدلای سي "د ايمان زړه ته هيڅ دا خبره د منلو وړ نه وه، د تلويزون کانال يې بدل کړ " ارمان لونی

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاکستانی پولیسو له لوری د تشدد په پایله کې شهید کړای شو" له ځایه پاڅید، په ویښتو کې ګوتې بندې کړې، "آخ خدایه اخ خدایه ... "

د تلویزون په پرده د پروفیسور محمدابراهیم عکس و، خبریال د هغه د وژل کېدو راپور وړاندې کاوه " د پښتون ژغورنې غورځنګ د مرکزي کمېټې غړی ارمان لوڼی نن د پاکستاني پولیسو له خوا وژل شوی دی.

بلوچستان کې د پښتون ژغورنې غورځنګ فعالان وایي، د غورځنګ د مرکزي کمېټې یو غړی ارمان لوڼی نن شنبه ماښام په لورالایې سیمه کې له پولیسو سره په اخ و ډب کې وژل شوی دی.

د غورځنګ یوه فعال محب شیراز رسنیو ته وویل، پولیسو د دوی مخکې پر ارمان لوڼي تشدد وکړ او هغه یې وواژه.

او له دې سره بریښنا ښکته شوه، میوند خاموش ناست و، کله چې یې ولیدل د ایمان حالت ډېر خراب دی، هغه یې ترلاس ونیو او همداسې یې له خونې څخه رابهر کړ، مریم هم د ایمان د حالت په لیدو سره حیرانه شوه دا لومړی ځل و چې هغه د یو چا په وژل کېدو سره داسې حالت ته ورسید.

له دې سره، سره چې د ایمان حالت بیخي خراب شوی و،کله چې د میوند سترګې د مریم په سترګو کې خښې شوې، له ځانه ووت، روح یې د مریم له روح سره یوځای په ځان کې تاو راتاوه کړه او هوا ته والوت...

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې طلايي ويښتان، دنګ قامت او ښکلې سترګې ...ميوند لا همداسې مريم ته په کتو و، چې پښه يې له څوکۍ سره ولګيده او پرځمکه ولوېد.
ايمان په بيړه، هغه تر لاس ونيو او پوښتنه يې وکړه " څه در وشول، هيله ده چې ښه به يې؟ "
ميوند ځواب ورکړ " هغه، هغه زما ذهن بيخي ګډوډ شو، نو پام مې نه و، هو زه ... هو زه ښه يم "
له ايمان سره يوځاى مريم هم هغه ته لاس ورکړ او راپورته يې کړ، درې واړه سراى ته ووتل، مريم دواړو ته څوکۍ سمه کړه او خپله پرته له څه ويلو د باندې ووته.
که څه هم مريم به هره ورځ خپل کور ته د تګ ويل خو ايمان ورته همدا يوه خبر تکراروله چې تر څو دې صحت په بشپړه توګه ښه سوى نه وي همدلته به يې او همدلته اوسه.
ميوند تر شېبه ناستې وروسته، زړه تنګى شو او تر رخصت اخيستو وروسته لاړ...
ايمان تنهايې ته پاتې شو، ددې لپاره چې پام يې غلط شي د انټرنټ نړۍ ته يې سترګې ورښکاره کړې، ټولنيزي رسنۍ ټولې د شهيد ارمان په عکسونو ډکې وې، هرچا د آرمان په وير ژړا کوله:
"د پښتون ژغورنې غورځنګ مشر منظور پښتين په فيسبوک کې دغه پېښه غندلې او وايي، همدا اوس په لورالايي کې د پېښې په اړه احتجاج روان دى."

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم بل چا د ارمان جنازې ته د هغه د خور وړانګې عکس خپور کړی ورسره لیکي یې دي " ارمان د هغه ارمان قرباني شو، چې ویل به یې په لر او بر پښتنو دې د پنجاب روان ظلم ودرول شي." ایمان ځو ځله د څه لیکلو هڅه وکړه خو بیرته یې پاکه کړه، هیڅ یې نه شوای کولای یو څه ولیکې، بیخي زیات دردېدلی او ناکراره ناست و، ملګرو ته یې زنګونه ووهل او د سبا لپاره یې د ارمان لونې په حق

کې د لاریون تیاری ونیو.
ایمان سهار وختي لا مطبعې ته رسېدلی و او "د لوی افغانستان شهید ارمان شهید" په عنوان یې بینرونه او شعارونه چمتو کول، د ملګرو له راغونډېدو سره سم د ارمان لونې د فاتحې مراسم، غایبانه جنازه او په یاد یې شمعې بل کړل شوې، وروسته د ښار په عمومې څلور لارې د آرمان لونې د شهادت په پار سلګونه خلک را ټول شوي وو او د آرمان د قاتلانو او د هغه د حق غوښتنې تر څنګ یې په مقبوضه پښتونخوا کې د ورکو شویو او شهید کړل شویو خپلوانو غوښتنه کوله.
دا وخت میوند مایک ته لاس کړ او په لاوډ سپیکر کې یې په زورور انداز سره وویل " د پنجاب د زبېښاک د دوام او پر نورو قومونو یې د خېټې اچولو د لړۍ د پراختیا په موخه پنجابي ملېشو د هر هغې کورنۍ کسان او مخکښ غړی وژلی او یا یې ژوندي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورک کړي، چې له پنجابه يې د خپلو حقونو او ازادۍ تر لاسه کولو لپاره غږ پورته کړی دی."
لاريونوالو په زوره زوره " د لوی افغانستان شهيد ارمان شهيد، ارمان شهيد" شعار بدرگه کاوه؛ ميوند، ايمان ته مايک ورکړ، هغه په داسې حال کې چې له زړه يې وينې څڅېدلې وويل " پاکستانې رياست بايد د دغه غورځنګ د فعال غړي ارمان لوڼي قاتل پيدا کړي او دا قضيه بې له ځېړلو همداسې پرې نه ږدي، که څه هم دا د پاکستان رياست کړنه ده بيا هم غږ کوو چې د ارمان قاتلين پيدا کړل شي، ارمان لوڼی چې اصلي نوم يې محمد ابراهيم و، د سنځاوۍ اوسېدونکی او په پښتون ژغورنې غورځنګ کې دومره زيات فعال و، چې نه يوازې د ننګ ميدان ته پخپله راوتی و، بلکې خپله خور وړانګه لوڼۍ يې هم له ځان سره د ننګ ميدان ته راوستې وه. "
ايمان نور څه هم غوښتل چې ووايې خو په همدې وخت کې يې موبايل ته زنګ راغی، د لاوډ سپيکر مايک يې کوم بل ځوان ته ونيو او خپله يې زنګ ته ځواب ورکړ:
ــ سلام!
ــ هيله کوم دا هرڅه بس کړه، موږ همدا اوس هم تا څارو
ايمان په خبرو کې ور ولوېد، څه مطلب، يانې موږ څه بس کړو؟
ــ همدا چې څه دي روان کړيدي.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایمان ورغبرګه کړه "شهید ارمان لوڼي له پیل نه دا اټکل کاوه چې د آزادۍ شهید به وي او وینه به یې رنګ راوړي، نن ورځ زموږ مخې ته هیڅوک هم نشي راتلی او زه باور لرم چې د ابراهیم ارمان به ضرور پوره کېږي، تا او د پاکستان پښتون دښمن پوځ او استخباراتو محمد ابراهیم (ارمان لوڼی) شهید کړ، خو زه په ډاډ سره ویلای شم چې د ارمان شهادت به د مقبوضه پښتونخوا ازادۍ ته اوږد مزل ډېر لنډ کړي." او له همدې سره یې اړیکه بنکته شوه.
کله چې لاریون پای ته ورسید، ایمان او میوند هم پخپله لار روان شول او د کور تکل یې وکړ، په لاره کې د میوند تلیفون ته پرلپسې زنګونه راتلل خو ځواب یې نه ورکاوه؛ ایمان چې له ډېرو زنګونو په تنګ راغی، میوند ته یې وویل " یاره ځواب ورکړه، بیخي مې زړه ورته تنګ شو" میوند په همدې خاطر ځواب نه ورکاوه چې شمېره نامعلومه وه، د ایمان په ټینګار یې ځواب ورکړ:
ــ سلام ورورره!
ــ وعلیکم سلام ...
یو ناپېژند غږ یې تر غوږ شو، ورغبرګه یې کړه " څنګه یاست؟ ورورره څوک؟ ... "
سړي چې په زورروره او قهرجنه لهجه یې خبرې کولې د میوند په ځواب کې وویل " هیله کوم دا هرڅه بس کړئ، ما ستا ملګري ته هم وویل، زه نه غواړم چې تاسو ته کوم تکلیف ورسوم، مګر ستاسو دا کړنې به ما او زما ملګري مجبوره کړي چې عکس العمل

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرګند کړو ... " ایمان یې له لاسه موبایل واخیست او ځواب یې ورکړ:
ــ که تاسو ربښتیا هم زما او زما د کړنو مخالف څوک یاست، نو ما وګواښئ، هیله کوم زما ملګرو ته زیان مه رسوئ. د ایمان په لهجه کې نرمې او حوصله ځرګندېده.
مخالف کس یې په ځواب کې وویل:
ــ د همت ارین مرګ کوم تصادف نه و...، کېدای شي تاته به یاد وي چې تر هغه یوه ورځ مخکې لا موږ تاسو ته خبر درکړی و، مګر تاسو بیا هم هغه څه ترسره کړل کوم چې مو منع کړي واست، ستا آرین او خوږ یار زموږ د ملګرو لخوا په موټر وهل شوی و، هغه کومه تصادفي حادثه نه وه، هیله ده، مطلب دې اخیستی وي.
د ایمان له لاسه موبایل ولوېد، ژر یې موټر د لارې څنګ ته کړ او ودرېد.
د زړه زربان یې زورور شول، لویه چیغه یې تر خوله ووته " آرین "
له موټره ښکته شول، میوند ټینګ په غېږ کې ونیو، څه وشول، د همت په اړه یې څه وویل، ووایه ایمانو ووایه؟!
ــــ هغه دوی وژلی، د همت پېښه کولو کې هم دوی لاس لري، هغه دوی وژلی... او بیا یې د موټر ټایر ته یوه کلکه لغته ورکړه " اوووف خدایه، کوم امتحان نه و چې تا نه واخیست . "

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې میوند ته مخ ور واړوه، په داسې حال چې غوښتل یې بیرته موټر ته وخیږي وویل: "چیرته چې ایډیولوژۍ د ټوپک په خوله خبرې کوي؛هلته به د برداشتونو تر منځ واټنونه پرېکړې کوي."

ایمان کور ته له رسېدو سره سم له مریم سره مخامخ شو، مریم یې د حالت په لیدو سره پوښتنه وکړه " ښاغلیه! باید پوه شم چې څه خبره ده او هو رښتیا میوند؟ "

ــ میوند کور ته لاړ ...

ــ نو ستا دې حالت ته ګوره، سترګې دې څنګه سرې شوې دي، لکه چې ژړلي دې وي.

ایمان همداسې غلی ناست و او د مېز په سر د همت ایښي عکس ته یې په ځیر ځیر سره کتل، مریم د ایمان مخې ته له چایو ګېلاس ډک کړ، د تسلۍ په پار یې د ایمان لاس ونیو او وې ویل:

ــ پوهېږم، دا ډېره سخته ده، د خدای رضا باید ومنو، دا به مو قسمت وي.

ایمان وویل:

ــ نه پوهېږو! موږ رښتیا هم نه پوهېږو چې دا هرڅه زموږ نه، بلکې د حالاتو په لاسونو کې دي، اوس دا حالات راباندې دومره زورور شوي دي چې هرڅه وغواړي راسره کولای یې شي..

مریم ورغبرګه کړه:

ــ باید په دې پوه شو چې موږ په خپله د حالاتو ذمه وار یوو، پخپله مو ځان د مردارو اوبو ډنډ ته غورځولی او په پاکې کې راته ځان

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیرن اېسي ، ستا غونډې یوه ازاد او خودمختار انسان ځان د مجبورۍ په ځنځیرونو تړلی، که څه هم باید مجبور ووسو، خو لازمه نده چې خامخا باید مجبور ووسو، ځکه مجبورۍ یې وروستی حد دی او تردې وړاندې د خپلواکۍ سل زره نورې لارې لرو.

ایمان وویل:

ــ اوس هغه وخت نه دی چې څوک دې په پټو سترګو څه ومني، هر سړی په حقایقو پسې ګرځي او همدغه د انسان کمال هم کېدلی سي چې د حقیقت تر موندلو پورې تر وروستۍ اندازې ولاړ سي.

ــ ایمانه! دلته بیا برعکس هرڅه په پټو سترګو منل کېږي تر رښتیا ډېر درواغو ته اهمیت ورکول کېږي او همدارنګه د رڼا لارویان او مشالونه مو د رڼایي په تور بدناموي.

تر لږ څه چوپتیا وروسته مریم چوپتیا ماته کړه او ووې ویل:

ــ په ډېر ګډوډ حالت کې د عادت خلاف عمل پکار دی هغه دا چې یو تریخ شی باید د خواږه په نوم ومنې او خوند ترې واخلې.

ایمان وویل"یو څوک دا خبره هم کوي چې ترخه تل خوندور او په حقیقت کې خواږه وي او هو دا کېدلی هم سي، مریم جان زه تل هغه څه خوښوم چې بدنام وي لکه شیطان او نور ټول هغه څه چې بد نوم یې ګټلی وي."

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایمان په لومړي ځل یوې نجلۍ ته د "جان "لفظ کارولی و او دی خپله دې لفظ ته له متوجه کېدو سره لږ څه خجالت هم سو خو نظر انداز یې کړ او وې ویل:
ــ دا څومره موده کېږي چې خیرن یم او ځان مینځلو ته مې زړه نه کېږي.
مریم وویل:
ــ پکار خو داسې ده چې هر وخت باید پاک او مقدس وګرځې.
ایمان وویل:
ــ مګر زه اوس تقریباً له داسې خیرنتوب سره عادت سوی یم او دا ځکه چې په ټوله شاوخوا کې مې کوم داسې سپیڅلی ډنډ نسته چې ځان په کې غوپه کړم.
مریم وویل:
ــ د خیرنتوب هم خپل خوند وي او دا خوند هم یوازې او یوازې د ځینو په نصیب کې کېدلای سي.
ددوی مکالمې لا دوام درلود چې مریم ته زنګ راغی، فوراً یې ځواب ورکړ "هیله کوم مزاحمت مه کوه " او موبایل یې بند کړ.
ایمان وپوښتل، فکر کوم مئین دې دی؟
ــ نه، هسې کوم څوک به وي، زه دا نشم زغملی چې یو پردی څوک راسره بې ځایه او بې له کوم دلیله خبرې وکړي، دا زما ایمان او غرور ته زیان رسوي او له همدې سره یې وخندل...
ایمان وویل:

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ د خپل درمان سره په جنګ کې همیشه ایمان ته څه ناڅه تاوان ضرور رسیږي خو په حقیقت کې د ایمان تازګي په همدې تاوان کې نغښتې ده.
مریم، مسکۍ شوه او وې ویل " ایمانو که خوښه دې وي یوڅه به وخورو، زه بیخي زیاته وږې سوې یم. "
تر خوړو وروسته ایمان د څای څښلو ته "نه" وویل او خپلې خونې ته د مطالعې لپاره لاړ، مریم تمامه شپه په ویښه تېره کړه، کله به یې د ریان، حوا ، همت او کله به یې هم د ایمان د مهربانۍ په اړه فکرونه کول ...
سهار وختي کله چې ایمان د لمانځه او ورزش کولو لپاره پاڅید، وې لیدل چې مریم په څوکۍ کې ناسته ویده سوې ده، خواته یې ورغی، ډېر په زړه نا زړه یې د هغې په اوږه لاس ورکېښود، مریم یو ناڅاپه په ډار او ترس کې له خوب رابیداره شوه او ایمان ته یې په حیرانتیا سره کتل...
ایمان پوښتنه وکړه:
ـ ته دلته؟ یانې ته دلته ویده شوې وې؟
مریم پټه خوله ناسته وه او لا یې هم ایمان ته حیران حیران کتل، ایمان بیا پوښتنه وکړه، مریم دا څه وینم؟ او پسې زیاته یې کړه، "ددې دا مطلب چې ته تر ډېره ویښه پاتې شوې یې او دلته په ناسته ناسته ویده شوې یې ... هله نو پاڅه او ارام وکړه. "
ساعت تر کتو وروسته یې ځان چمتو کړ او له کوره ووت.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایمان تر ستړې مشې وروسته داسې ستړی غوندې کېناست او تر ډېره په فکر کې ډوب تللی و، چې د میوند په غږ سره رابیدار سو، هغه داسې په زوره ورته وویل:
ـ څه کوې آشنا په کومو سوچونو کې تللی یې؟
یو سوړ اسوېلی یې وکیښ او ورته وې ویل:
_ کله، کله انسان دومره ناهیلی سي چې هرڅه یې، ان تردې چې ژوند یې تر پام بد ورځي.
ځواب یې ورکړ :
_ زبردست، ملا په خپله څه نه کوي او نورو ته نصحت کوي، تر پرونه پورې دي موږ ته د ناهیلي په وړاندې د مبارزې ویل او نن ځان ته ګوره؟
ـ نه پو هېږم یار دا یوه اونۍ کېږي پرلپسې د ناهیلي په وړاندې د مبارزې تمرین کوم، خو یوه دومره باریکه نقطه مې په وړاندې ودرېږي، مبارزه څه چې نوم یې لا راڅخه هېر سي.
میوند په شونډو کې مسک سو او داسې په طنزیه انداز یې ورته وویل، بچیش نه مې درته وېل دا وخت درباندې راځي بیا به دې ووینم ...
ورغبرګه یې کړه:
ـ دا سمه ده چې ماته ژوند کول ارزښت لري، نه دا چې ژوند تېر سي؛ خو ناهیلي بیا هغه څه ده چې ارزښت هم تر پښو لاندې کولای

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



سي.
- ښه نو ته د څه په اړه فکر کوې؟
-تل به مې هڅه کوله چې نهیلي کسان وڅغورم او هغوی بیا ژوند کولو ته وهڅوم ځکه زه پوهېدم دوی کولای سي د هغوی په توان او طاقت مې باور درلود، دوی وزرونه لرل یواځې دا به پاتې و چې الوت یې ورزده کړم، زه چې وزر نلرم الوت به څنګه وکړم؟
میوند وویل:
- یواځې او یواځې پرخپل خدای باندې باور ولره.
ایمان په پټه خوله ځان ته کېناست او د خپل ازلي بدبخته قسمت د بدلېدلو لپاره یې د لوی څښتن تعالی جله جلاله په دربار کې دعا وکړه.

میوند په تکرار سره پوښتنه وکړه:
ــ ستا دا حالت، هیڅ د زغملو نه دی، داسې څه شوي دي اخبر؟
ایمان په خبرو راغی او وې ویل:
اشنا په رښتیا هم زه نه پوهېږم خو یو نوی درد راته پیدا سوی؛ په وجود کې مې لګیا دی اندامونه مې زبېښي، دا کټ_مټ داسې وي لکه د کوم تللي چا یادګار چې درسره وي یا دې ته ورته کوم بل څه؟ خو زما لپاره تردې بل ښه مثال په نظر نه راته.
او پسې زیاته یې کړه " زه تږی شوی یم او ته پوهېږې،تشنګي تر نشې سخته وي، ما خپله څو ځوله نشه تجربه کړې ده خو کوم خوند

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په تشنګي کې وي هغه په نشه کې نسته، البته د مستۍ په اړه يې زه څه نسم ويلی.
ميوند بيا پوښتنه وکړه، ايمانو دا ته څه وايه اوس؟
ـ هيڅ!
لاکن نن د يوچا عاطفي حالت دومره متاثره کړم، نږدې و له سترګو مې ترخه اوښکه جلا سي، د شيطان رزيل دې کور ودان وي، په دې کې يې هم دوه رنګي ليدله ...
د چايو ګيلاس يې په خوله پورته کړ "سوړ دی." ميوند يې له لاسه ګېلاس واخيست او تازه چای يې ورته واچوه.
ايمان وويل:
ـ يو مست انسان چې څومره لوڅ او بربنډ وي، هغومره يې انداز ځانګړی او له خونده ډک وي؛ زه اصلاً دا خبره کول غواړم چې مست او لوڅ انسانان بايد په سپين سترګتوب کې خامخا خپل حد وپېژني، مستي او بربنډي زما هم خوښېږي مګر په سپين سترګي خفه کېږم.
ميوند دفتر ته د تلو وويل او رخصت يې واخيست.

مريم د جامو بدلولو په حال کې وه چې ميوند را دننه شو، هغه وار له واره د هغې سپينې او لوڅې ملا، طلايي ويښتو او بيا يې په مخ شيشه کې چيرته چې مريم دخپلو اندامونو په تماشه ولاړه وه، دهغې د نامه غوټۍ ته په کتو کې غرق لاړ، خو وروسته تر جامو بدلولو

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې په مخامخ هينداره کې وليدل چې ميوند يې تر شا ولاړ دی، په حيرانۍ او وهمجنه لهجه کې يې د هغه نوم واخيست او وې ويل "ميوند، ميوندۀ تۀ؟! " ميوند وخندل او وې ويل "هو زه" او پسې زياته يې کړه " ښکلې ښکارې" مريم له شرمه تکه سره واوښته او داسې بد احساس يې وکړ، خو ميوند له چالاکۍ څخه په ګوتې اخيستنې خپله پښه وښويوله او ځان يې د مريم لور ته په غورځېدلو کې تمثيل کړ، هغې يې د نيولو هڅه وکړه، دوی لا همداسې سترګو په سترګو کې و، چې ايمان له لمانځه او ورزش وروسته کور ته راغی، ميوند د خجالتۍ احساس وکړ خو پرته له دې چې په همدې اړه څه ووايې ايمان ته يې وويل "سهار پخير، ورځ مو نېکمرغه! " او تر لږ څه کېناستو وروسته يې رخصت واخيست او ولاړ.

ايمان نن ټوله ورځ د هغې صحنې په اړه فکر کاوه چې کور ته د راتګ په وخت کې يې ليدلې وه.

په همدې وخت کې مريم راغله او پوښتنه يې وکړه "فکر کوم نن لکه چې د کار لپاره چمتوالی نه نيسې؟

ايمان د تلويزون په پرده د سهار د اوو بجو خبرونه کتل د تلويزون په پټۍ ليکلي و ''امريکا څو ورځو کې له طالبانو سره جوړجاړی اعلانوي''

وياند خبرونه لوستل(( کابل کې په يو هوټل کې د واده په مراسمو بيګنۍ چاودنې کې د مړګ ژوبلې ارقام له ۲۰۰ واوښتلو))

خبريال راپور ورکاوه ؛

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه چاودنه کې ټول ملکي کسان په شهادت رسېدلي دي
په یاد خونړي برید کې ۶۳ کسان شهیدان شوي دي او ۱۸۲ کسان زخمیان دي..
د قربانیانو له جملې څخه د یوې کورنۍ ۱۴ غړي شهیدان شوي دي.
د پېښې یوه عیني شاهد خبرې کولې؛
په نڅا او خوشحالۍ بوخت وو چې ناڅاپه یو درووند غږ فضا تیاره کړه، هره خوا لوګي و او د هوټل په سالون کې شور ماشور شو.
حالت ډېر خراب و، ښځو لوڅې پښې پر واټونو منډې وهلې او چغې یې وهلې چې زمونږ زامن چېرې دي؟ ځینو نارې وهلې چې زما پلار څه شو؟ ما په خپل ژوند داسې حالت نه و لیدلی.
د تلویزون په پرده ځینې خونړي عکسونه وو، د ځینو پښې او چاودنې ته د نژدې خلکو سرونه پرې شوي وو. خلکو د ټپیانو په لېږدولو کې له امنیتي ځواکونو سره مرسته کړه او ټپیان یې روغتون ته لېږدول.
ایمان له یوه اه سره تلویزون بند کړ او تر یوه شېبه چوپتیا وروسته د مریم سترګو ته په کتو کې وویل:
ــ لکه چې د ژوند یو بل پړاو پیل کېدونکی دی او په څو ورځو کې به یوځل بیا د غم او زغم ترمنځ د کشمکش ښکار یم، زه خپله نه پوهېږم خو یو چا دا خبره کړې ده چې که غم درباندې راغی په

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاص زړه یې ومنه، ځکه همدا غم دی چې ځوک یوځای ته رسوي.
مریم وویل:
ـ ایمانو، د ځوانۍ توده هوا انسان تازه ساتي او دا وخت ځوک دومره د ستونزو په اړه فکر نه کوي دا خبره زما په نظر بالکل درواغ ځکه ده چې د ځوانۍ هوا که ځومره انسان تود ساتي همدومره یې په وجود او روح کې د نویو شیانو تخم پخوي.
ایمان یو اوږد اسوېلی ویست او وې ویل:
ـ هر نوی شی د اندیښنې وړ دی.
مریم د خپلې حاضر جوابۍ ځخه په استفادې سره وویل:
ـ خو باید پام مو دې ته وي چې ځومره ګټور تمامېدلی شي، نه دا چې فکر وکړئ ځومره زیان به ولري.
ایمان چې تر ډېره یې خپله غصه کنترول نشوای کړی وې ویل:
ـ داسې له میوند سره دا مې هیڅ خوښ نه شول، نصحت جلا کیسه ده خو زما په رښتیا هم ستاسو دا کړنه، بده یې مه ګڼه لاکن دلته دا ذکر کول پکار و ...
مریم ورغبرګه کړه " ولې یو ځوک تل د نیم تش ګیلاس یادونه کوي خو په نیم ډک باندې سترګې پټوي، میوند ستا ملګری دی ."
ایمان له ځایه پاځېد او وې ویل "د ګیلاس نوم باید په ډېر احتیاط سره واخیستل شي ځکه دا د ماتېدو شی دی.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میوند او مریم ترمنځ اړیکې ورځ په ورځ غځېدې او د همدې ټول څه هڅه یو اځې او یو اځې میوند کوله، کله به یې ورته میسجونه لیږل، کله کتابونه او کله به یې هم له مریم سره ناسته کړه او ورسره بېلا بېلې د ژوند کیسې یې شریکولې، مریم که څه هم نه غوښتل داسې کوم څه وشي خو په غیر مستقیم ډول د میوند له حرکتونو، کړنو او کتو متاثره ښکارېده او د هغه په اړه یې وخت ناوخته فکرونه او اندېښنې ځرګندولې...
اوس د مریم هم زړه غوښتل چې نور تل تر تله د ایمان په کور کې پاتې شي، اوس خو به چې دندې ته هم د ایمان له کوره تله او راتله، نن ورځ یې له مور سره هم اړیکه ونیوله او هغې ته یې د خپلې خوشحالۍ کیسې وکړې.
خو د ایمان ورځ په ګډوډو فکرونو او ستړې ذهن سره تېره شوه، کله چې ماښام کور ته راغی، پرته له دې چې څه وخوري یا د مریم سره ووینې خپل اطاق ته لاړ او په ځای کې پرېوت، چې له یو څه شېبې وروسته یې سترګې سره ورغلې او ارام خوب یووړ، په همدې وخت کې مریم هم د هغه اطاق ته راغله، کله چې یې ولیدل ایمان په ارام خوب کې دی بیرته ووته ...
خو له وتو سره سم یې د ایمان چیغې واورېدې او بیرته راغبرګه شوه، وې لیدل چې هغه پخپل ځای کې وارخطا ناست دی او وجود یې خولې شوی و، پرته له دې چې مریم پوښتنه وکړي، ایمان وویل:

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوب وینم لاسونه مې غوڅ شوي وي، په یوه کوڅه کې روان یم چیغې او نارې وهم، هیڅوک مې غږ نه اوري، بالاخره یو څوک راپسې غږ کړي:

_ آخ ته دا وګوره ... هیڅ، هیڅ آخ څه درباندې شوي چې ځان دې داسې په وینو لړلی دی او نارې وهې ها؟

ومې ویل:

_ زه هم نه پوهېږم ولې؟ خو کله چې راویښ شوم دواړه لاسونه مې غوڅ شوي وو ، په کوڅه کې هیڅوک نشته چې د ځان په اړه ترې پوښتنه وکړم چې دا چا؟!

او یوازې همدا ته یې، فکر نه کوم چې ته دې هم زما له دې حالت څخه خبر ووسې.

سړی یو دم په خندا شو او دومره یې وخندل چې له ډېرې خندا یې ساه بنده، بنده شوه په همدې وخت کښې یې راته وویل :

_ دا بیخي بل ورځ ده، یو سړی دې تردې حده خوب وړی وي چې د لاسونو په غوڅېدلو نه وي خبر او بیا په خوب کې د ځان په اړه پوښتنه هم له خوب وړو څخه کوي، دا هیڅ امکان نلري چې یو ویښ سړی دې د ویدو خلکو له خوب څخه خبر شي، تاسو ته پکار ده چې یوازې او یوازې د خوبونو په محل کې واوسئ. دنیا د ویښو خلکو ځای دی او یوازې ویښ خلک کولای شي د ځان او حالت په اړه له ما څخه پوښتنه وکړي.

ومې ویل ته څوک یې؟

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغبرګه يې کړه:
_ د يو ويده قام ولسمشر، دا غږ دومره دروند و چې زه يې له خوبه راويښ کړم.
مريم چې هرڅومره ډاډ ورکړ، خو هغه په همدې خبره ټينګار کاوه چې زه ويرېږم او يو څه غلط کېدونکي دي.
نن سهار چې ميوند راغلی نه و، ايمان پخپله ورپسې زنګ وکړ او هغه يې کور ته راوباله، د کابل چاپ ورځ پاڼه يې ور واخيسته "ناټو او امريکايي چارواکي له څو مياشتو راهيسې د افغانستان وضعيت په ارزولو او په مې مياشت کې له دغه هېواده د بهرنيو ځواکونو د وتلو په مسئلې بوخت دي. "
ورځپاڼې ټينګار کړی چې د افغانستان د جګړې د پای ته رسولو په هدف تر ټولو غوره پريکړه دا ده چې د نړيوالو ځواکونو ماموريت بدلون ومومي.
خو د ليکوال په وينا، د افغانستان د تېرو دوو لسيزو لاسته راوړنو خونديتوب لپاره اړتيا ده چې ټول لوري مسوولانه تصميم ونيسي.
په ډېر کم وخت کې ميوند هم راورسيد او ددوی ترمنځ د تل په څېر خوندوره مکالمه د سولې له خبرو را پيل شوه او د نن سهارنۍ خو د مريم د لاس پراټو لا خوندوره کړې وه.
ايمان ورځپاڼې ته په اشاره وويل امريکا او طالبان د ترهګر او ترهګرۍ تعريف پر سر نه سره جوړېږي او دا ځکه مهم خبره ده

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې امریکا او طالبانو په اصولو کې موافقه کړې چې د افغانستان خاوره د
ترهګرو ډلو لخوا د امریکا او نورو لوېدیځو هېوادونو پرضد نه کارول کیږي.
میوند په داسې حال کې چې خوله یې ډکه وه، د مریم مننه وکړه او وې ویل "ډېر یو ښه خوند یې دی. " او پسې زیاته یې کړه: یوازې د جګړې پای ته رسېدل بس نه دي بلکې اړتیا ده چې هر ډول سوله باید پراخه وي او د افغانستان په راتلونکې کې باید د ټولو حقونه خوندي شي په تېره مېرمنې چې د طالبان د واکمنۍ پرمهال ډیرې زوربېدلي دي.

ایمان د موضوع بدلیدلو هڅه وکړه او وې ویل "میوند جانه " پرون مې تازه ځان مینځلی او د خپل زړه خبرو ته غوږ نیولی و چې د خپل خام عقل غلبه راباندې راغله او زه یې له یو داسې چا سره خبرو کولو ته مجبور کړم چې هیڅ اړتیا مې نه وه ."
او پسې زیاته یې کړه؛
قدرت د قسمت په ټاکلو کې زبردست کار کړی، هرچاته یې نصب او غضب دواړه برابر ورکړي دي؛ کېدای سي پام مو وي چې موږ تل له ښېګړو مخکې د هغه په بدګړو فکر کوو او همدا وجه ده چې د نیکمرغۍ پرځای له بدمرغۍ سره مخ کیږو.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



میوند ورغبرګه کړه:
ــ نصب که څه هم د خپل په مانا کارول کېږي لاکن زه بیا له دې مانا سره جوړ نه یم په دې اړه باید له سره فکر وشي.
ایمان داسې یو خوندور احساس وکړ او د میوند خبره یې تکرار کړه "هو، هو باید په دې اړه له سره فکر وشي. "
ایمان دا هڅه کوله چې د میوند ښېګڼې رایادې کړي او د مریم لپاره تمثیلي خندا او احساسات څرګند کړي.
میوند د ناوخته کېدو وویل او اجازه یې واخیسته.
د میوند له تلو سره سم، مریم د ایمان خواته راغله او د هغه مننه یې وکړه خو ایمان په خپل ځانګړي انداز کې خندا وکړه او وې ویل:
ــ او نن بیا د یو داسې ناولي فکر په احاطه کې راګېر وم چې را ولاړېدم په ذهن کې مې د خدای په امانۍ الفاظ هم ککړ شوي وو او د دې برکت دا دی، چې زه باید همدا اوس هدېرې ته لاړ شم او په اهل قُبورو سلام ووایم.
مریم وویل " ایمانو که ته داسې فکر کوې چې هغه غلط دی، نو له کوره یې منع کړه. " ایمان هیڅ هم نه وویل او له کوره ووت، خو د موبایل پاتې کېدو ته

بیرته راوګرځید، چې مریم ورباندې غږ کړ "زه هم درسره ځم."

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریم او ایمان یو ځای موټر کې د ښار په واټونو ګرځېدل او د جمعې ورځ له رخصتۍ یې خوند اخیست، چې له لارې بندۍ سره مخ شول او د زیات رش له امله یې دا هرڅه په بې خوندۍ بدل شول، مریم د ایمان سترګو ته په کتو کې فکر وړې وه او موسیقي یې اورېده، چې د موبایل په زنګ یې پام بدل شو، مریم ته زنګ و، ځواب یې کړ او وروسته له خبرو کولو یې ایمان ته مخ ور واړاوه، ملګرې مې وه او نن شپه یې واده ته بللي یوو، ته او میوند هم باید راسره لاړ شئ ...
په همدې وخت کې یو چا د شا لخوا پرلپسې هارن واهه کله چې پام یې شو د لارې خلاصېدو ډېر وخت شوی و، خو ایمان لا هم په لاره کې ولاړ و، یو تن د موټر شیشې ته راغی او ایمان ته یې په ښکنځلو پیل وکړ.
ایمان ښیښه بنده کړه او پرته له څه ویلو یې حرکت وکړ، تر یو څه تګ وروسته یې وویل " مریم په رښتیا هم دا هرڅه ډېر بد خونده دي او ډېر بدرنګ ځان مې د ژوند د ښار په کوڅو واټونو کې روان کړی، کوڅه ډب سپي هره خوا خوله اچوي.

مریم ورغبرګه کړه، ملامت وې باید پام دې وای ...
ــ کله، کله مې پر ځان باندې شک سي هسې نه رښتیا دومره چټل سوی یم چې د مردار بدن بوی مې یو څوک په تکلیف کړي.
مریم وویل، هیله کوم داسې خبرې تاسره نه ښایې.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ مریم له ځانه مې د انسانیت تمه پخوا ختلې ده لاکن یو څه چې زما ډېر امید ورته کېږي، هغه سپي دي چې لا تر اوسه د بادار په ځنځیر تړلي او له کوڅه ډب هغو سره د ګرځېدو نه دي.
مګر ته ولې داسې خبرې کوې؟ مریم له غصې تکه سره واوښته.
ایمان وویل:
ـ زما مې له خپل بدرنګ ځان څخه هیڅ کرکه نه کېږي او همدا وجه ده چې د زمانې له توپیري چلند سره کومه ستونزه نلرم ، که څه هم زمانې د ښه رنګي لاس نیولی؛ څه موده وړاندې مې زما په څېر له یو بدرنګ چا څخه د زمانې د ساعت تېرۍ په اړه وپوښتل، ځواب یې دا و چې په اتڼ کې فاتحه وایو.
ایمان او مریم تر مازدیګره پورې همداسې د ښار په واټونو، پارک، د لوبو میدانونو، هوټل او بالاخره کورته راستانه شول، که څه هم ډېر ستړي شوي ول،

بیا یې هم واده ته د تلو تیارۍ ونیو، میوند یې له ځانه سره واخیست او روان شول...
مریم د یوې ښې نڅاګرې په توګه نڅاه وکړه او په همدې وخت کې یې ایمان تر لاس ونیو له ځان سره یې راولاړ کړ، دا لومړی ځل و چې ایمان د بالې نڅاه کوله، که څه هم ایمان ورسره نابلده و، مګر د یوې ښکلې جوړې په توګه د ټولو د پام وړ وګرځېدل.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته له واده کله چې درې واړه د کور پر لور روان وو، میوند د دوی دواړو د نڅاه بیخي زیاته ستاینه وکړه او وې ویل " دا لومړی ځل و چې ما داسې یوه نڅاه ولیده، بیخي مو حیران کړم، دا یوازې زما لپاره نه بلکې په هوټل کې د ناستو کسانو لپاره فوق العاده وه، زه بیخي ډېرو ودونو او محفلونو ته تللی یم خو دا مې لومړی ځل و..."

په همدې وخت کې ایمان هم د مریم د فوق العاده نڅاه ستاینه وکړه او پوښتنه یې وکړه:

ــ مریم!

ایا پوهېدلای شم چې تاسو دا نڅاه چیرته زده کړې ؟

هغې ځواب ورکړ " له ډېره وخته ورسره مینه لرم او هو دا مې له خپلې یوې بهرنۍ استاذې زده کړې وه. "

ماته بیخي په زړه پورې وه... میوند یې بیا هم ستاینه وکړه.

ایمان د ناوخته کېدو یادونه وکړه، میوند یې تر خپل کور پورې ورساوه، په لاره کې یې د مریم د چوپتیا ماتېدو لپاره وویل:

ــ مریم!

یو بل څه ته مو چې باید پام وي هغه دا چې انسان په قدرت کې د یو لوی قدرت خښتن دی، لاکن وخت یې له بخت سره جګړې ته نه پرېږدي.

مریم بیا هم خپله حاضر ځوابي څرګنده کړه:

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ ځکه وخت پوهېږي که انسان له خپل بخت سره په جنګ اخته سي د وخت ارزښت کمېږي، ارزښت تر لوړ نه لوړ قیمت نه هم مهم دی.
ایمان په داسې یو ارامه لهجه خبرې پیل کړې:
ـ مریم زما ذهن په یو داسې ځنځیر تړل سوی چې هغه د وخت تابع دی او تل دا هڅه کوي چې له وخت سره سم بند او خلاص شي.
مریم ورغبرګه کړه " خو زه همېشه دا غواړم چې وخت په حقیقت کې هیڅ ارزښت نلري، بلکې ارزښت هغه څه لري چې تر وخت مخکې ترسره شي. "
ــ یانې څه؟ ایمان پوښتنه وکړه.
ـ یانې نن باید د سبا لپاره یو څه وکړای سو ترڅو سبا یې په منظم ډول راته ګټور تمام سي او له همهغه څخه په استفادې یوه بل راتلونکې ته چمتو واوسو؛ موږ باید

له ژوند سره په څنګ کې مزل وکړو، دا ځکه چې ژوند یو ارزښت دی او د ژوند ارزښت په نن کې د سبا لپاره دی.
کور ته له رسېدو سره مریم د زعفرانو چای اماده کړ، ایمان " مننه " وکړه او بیا یې د مریم په سترګو کې خپل نظر خښ کړ ...

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریم په مینه ناک انداز سره د هغه په سترګو کې ځان ولید. ایمان یو ځل بیا "مننه" وکړه او مریم ته یې وویل "کېدای شي ستا به خوښه نه شي، خو بیا هم غواړم یوڅه درته ووایم."
د مریم تلوسه شوه، په مېز د چایو له ګېلاس سره لاس ولګید او پرځمکه ولوېد...
هغې لا ګېلاس نه و راپورته کړی، چې یوڅه ته یې پام شو، هغه دا چې ایمان یې لاس نیولی و او په خپل زورور لاس سره یې د هغې نرم لاس ټینګاوه.
مریم غلې وه او ایمان یې د بڼو موسیقي ته غوږ و، د ایمان په زړه کې یوه څړیکه وه او هغه یې د څرګندولو هڅه کړه خو د "هو" او "نه" په منځ کې را ګیر ایمان، نه شوای کولای داسې یوڅه ووایي، چې د مریم احساساتو ته سپکاوی وشي یا کوم بل څه ...
ایمان یې لاس نور هم ټینګ کړ او د هغې سترګو ته په کتو سره یې وویل " مریم! زه مئین سوی یم،

د ژوند په ټولو هغو بې خونده شیانو چې د دې سیمې خلکو ته ارزښت نلري، شیطان که څه هم له خدایي درباره شړل سوی زما خوښېږي او هو بیخي زیات."
په همدې وخت کې یې د ذهن کړکۍ ته شیطان ودرېد او په ډېر احترام سره یې ددننه راتلو اجازه وغوښته.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریم هغه خپلې کوټې ته وباله او وې ویل "باید ویده شې ناوخته ده"
ایمان پخپل ځای کې را ولاړ شو او د مریم په سترګو کې ډوب تللی و، د ذهن شیطان یې بې له دې چې ایمان پوښتنه وکړي، ورته وویل ما خو به پېژنې چې شیطان یم؟
ایمان "هو" وویل .
هغه زیاته کړه ستا غوندې شیطان پرست خلک زما خوښېږي او زه ورته ډېر احترام لرم، دا ځکه چې دوی دوزخ حقیقي جنت ګڼي او دا حقیقت هم دی.
مریم یې د ځان خواته را نږدې کړه، کټ مټ په هوټل کې د نڅاه په څېر، مریم تاو را تاو شوه، ایمان لا هم د شیطان خبرو ته غوږ و، هغه په لوړ اواز خبرې کولې " دوزخ یو واقعیت دی چې انکار ترې نشي کېدی او د دوزخ په وړاندې انسان دومره کمزوری دی چې زما غوندې یو معمولي شیطان یې هم دې لور ته راکاږلی شي که څه هم خبر دی چې دوزخ د سرو لمبو کور

دی، او دده په بدن کې چې کومې حقیقي ګرمې ده هغه هم د دوزخ له اوره ده."
ایمان خپلې شونډې د مریم په سرو اننګو کېښودې، شیطان لا هم د هغه ذهن اشغال کړی و، هغه د ایمان غوږ ته خوله ورنږدې کړه او په ورو غږ یې وویل " لکه څرنګه چې ته همدا د یو خوندور

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکس په تمه يې ، داسې سکس چې ستا د وجود تږوله ګرمې ختمه سي" ایمان د مریم په تول وجود راخور شو او له دې سره سم شیطان علیه لعنت په غېږه کې ټینګ کړ او په څو دقیقو کې هغه یو تود سړی د خپل خیرن ځان په سپینو جامو کې د تاوده حُسن په سړه غېږه کې پروت و.

دا په بې ساري ډول زړه وړونکې ډالۍ وه چې ماته مې خپل رب راپیرزو کړه؛ زه نه پوهیږم او هو په رښتیا سره چې نه پوهیږم، دداسې یوې پرتمینې ډالۍ لپاره به د خپل خدای شکر څنګه ادا کړم (؟) دا ماته ډېره په زړه پورې ده، تل له داسې څه سره مخ کیږم چې په اړه يې یا نه پوهیږم او یا هم ډېر کم پوهیږم، نړۍ له همداسې حیرانوونکو شیانو ډکه ده او باید داسې وي چې لا تر اوسه د هغه چا د عطرو د بوی له امله ژوند کوو چې دا نړۍ يې پیداکړې ده، ممکن که د

هغه د حُسن یوه برخه خوشبويې تر مور نه وای رارسېدلې ژوند کول به ډېر سخت و.
ایمان په خپل ځانګړي انداز کې خبرې کولې او د میوند مخې ته يې د چایو ګېلاس ډک کړ، په همدې وخت کې مریم هم راغله او

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



له میوند یې د سترګو په اشارې سترې مشې وکړه، درې واړه د سبا ناري لپاره په مېز ناست وو.
ایمان په داسې حال کې چې ژر ژر یې له تودې پیالې غړپونه کول خبرې کولې " زړه مې غواړي ووایم چې زما رب ماته داسې یوه ډالۍ راکړې ده چې په لیدو به یې تاسو حیران څه چې بې سده شئ، ځکه نه غواړم تاسو هغه ووینئ او که تاسو په رښتیا سره غواړئ هغه ووینئ نو د خپل روح په اړه فکر وکړئ، زه د خپلې روح لیدلو ته په تمه یم، خو زه نه پوهېږم چې هغه به له ګناهونو پاکه وي، روح مې زما تر خیرن وجود ډېره پاکه وه، خو کله چې وتله خامخا به وي خیرنه."
میوند د تلو وویل د تلو په وخت کې یې ورځپاڼې ته پام شول بیرته د یوې شېبې لپاره کېناست او د ورځپاڼې په لوستلو یې پیل وکړ؛ سرمقاله وه "افغانستان د بیان ازادۍ په ډلبندۍ کې د سیمې له ټولو هېوادونو بر ځای لري. افغانستان کې

مذهبي زغم او د خپلواکو رسنیو فعالیت هم بې سارې دی".
ورځپاڼې په یو بل خبر کې د افغان ولسمشر له خولې لیکلي و"دا د ستاینې وړ پرمختګ دی او زه خوښ یم چې د سولې په هکله تر اوسه زموږ له اصولي دریځه د ګټورو پایلو راوتل پیل شوي دي. زموږ لومړنی هدف دا دی چې بې معنا وینه تویېدنه پای ته ورسېږي. "

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایمان میوند ته دناوختۍ وویل او پسې زیاته یې کړه؛
افغانستان کې د سولې لپاره مناسب چاپېریال تراوسه سم نه دی برابر شوی. د سولې خبرې که په مسکو او یا هم په اماراتو کې کیږي تر ډېره پکې د بهرنیانو ګټې لومړیتوب لري او تبلیغاتي بڼه لري.
میوند هم د ایمانو د خبرې تائید کړې؛
هو یاره په افغان حکومت کې دننه هم ځینې کړی له دې کبله سولې ته زړه نه ښه کوي چې خپلې ګټې په خطر کې ویني.
ایمان ځان چمتو کړ او په تلو تلو کې یې وویل لنډه دا چې د افغان سولې پر وړاندې خنډونه ښایي ډېر وي، خو زما په اند د بهرنیو هېوادونو لاسوهنې او د دوی خپلمنځي اړیکې تر ټولو حساسه موضوع او د سولې په لار کې لوی خنډ دی.

که دا هېوادونه د خپلو ګټو ترڅنګ د افغانستان دایمي ثبات او سوله هم مهم وبولي نو بیا ښایي روان کړکیچ پای ته ورسیږي.

ایمان نن ټوله ورځ په دفتر کې ډېره ښه تېره کړه، ورځ یې بیخي مسته تېره وه، ایمان لا په کمپیوټر کې بوخت و، چې میوند راغی او هغه ته یې وویل "هله نو چې وخت پوره دی باید لاړ شو" ایمان خپل کمپیوټر بند کړ او د کور پر لور یې حرکت وکړ.
میوند یو ستړی اسویلی وکړ او وې وویل:

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایمانو! ددې ښار مازدیګر په دې هم بدرنګه دی چې د لمر لوېدو ځرک پکښې نه لیدل کېږي، دلته عمر ډېر په منډه دی، لمرخاته او لمر لوېدو ته دې ور پام نه وي، اونۍ تېره سي.
ایمان د هغه خبره په خوله کې ور وچه کړه او وې ویل:
په تېر محفل کې یوې ډمې، هنر او حسُن یوځای خرڅول زما یې تر ډېره په سپین ګرېوان کې سترګې وې، چې راووتم یوه تنۍ مې نه وه، یاد مې نه ده خو شکېدلې ضرور ده.

میوند ورغبرګه کړه:
زه نه پوهېږم چې ته د کوم محفل په اړه خبرې کوې؛
مګر زما په لاس کې د تسبو یو بند دی چې د مینې په قسم غوټه سوی، له یو چا سره د مینې په بنیاد موجوده اړیکه یو پاک زړه هیځکله دې ته نه پرېږدي چې داغ ورباندې ولګېږي.
ایمان وویل:
- یانې له دې دا هم مالومه سوه چې شیطان د مینې په مقابل کې یو کمزوری ذات دی.
او پسې زیاته یې کړه " تېر مست ماښام دا ثابته کړه چې هر رنګ په ښکلا کې یو مهم رول لري، هرڅه باید داسې لوڅ کړل شي چې اصلي رنګ یې راڅرګند شي، خوند په بربنډو اجناسو کې دی، که څه هم هغه د یوې خبرني پېغلي بدن وي."
میوند وویل:

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ همداسې د تور ښار انارکلۍ او هیره منډۍ مصنوعي حُسن یو جلا خوند لري، ترخې شپې خو باید په ترخو اوبو ووینځل سي.
ایمان په کړس کړس وخندل او وې ویل "یانې کابل او تور ښار سره پرتله کېدای شي؟ "
میوند ځواب ورکړ:
ـــ د ورځ او شپې توپیر په دې کښې دی چې شپه توره او ورځ رونه ده،لکه څرنګه چې شپه په هر بربنډ چا پرده غوړوي، دغه رنګه ورځ بیا ددې برعکس ده.
ایمان وویل:
ـ ځکه هم زما او د تورې شپې ترمنځ چې کوم پټ تعلق دی، هغه که د ګناه له اړخه دی او که د ثواب په برخه کې یو سپېڅلی حقیقت په ځان کښې نغاړي، اوس نو سوال دادی چې زما غوندې شیطان پرست انسانان به د خدای مخ ته په کومه سترګو ورځي (؟)
"داسې یو د نه زغملو حالت پرما بیخي نه دی راغلی، د حُسن په سودا کې زه همیشه تاواني کېږم او دا د هغه مصنوعي ښایست کمال دی چې د شیطان علیه لعنت رنګ پکښې وي." میوند په زوروره لهجه خبرې کولې او زیاته یې کړه " د اسلام اباد ښار کې، چې زما ډېر پام یې ځانته کړ، هغه د خدای په لوی کور کې نیمې بربنډې پېغلې وې، چې په اوږو یې اوږده تور او ژېړبخون وېښتان پراته وو.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میوند په لهجه کې شرارت پروت و، ایمان ورغبرګه کړه "یانې ته د یو وخت د تور او رنګین ښار باشنده هم وې.
میوند ځواب ورکړ:
ـ البته دا بیا بېله کیسه ده چې د هغې بلې دنیا حورې به نیمه بربنډې وي او که ټولې (؟)
ایمان په داسې حال کې چې د سرک، سور شوي څراغ ته یې موټر ودراوه، وې ویل:
ـ دا یو غیر عادي حالت دی داسې یو حالت چې زه یې نا ارامه کړی یم، ډارېږم، رښتیا هم ډېر ډارېږم، لکه چې زما د ګناه او ثواب حساب و کتاب رانږدې سوی وي او پرما باندې د سور دوزخ یا جنت زېری کېږي.
میوند ځواب ورکړ:
ـ زه له دوزخ څخه وېره او د جنت له ژوند سره چندان علاقه نلرم؛ دا ځکه چې زما ډېر سخت ژوند خوښېږي او نه هم ډېر آسان، لکه همدا اوس چې په موږ (انسان) د ټکنالوژۍ یرغل را روان دی او دی به د خپل ځان تابع ګرځوي، انسان غواړي چې خوراک یې په خوله کې ورکړل سي (؟) دا زما تبه بیخي نه مني چې تر حد زیات ماشیني ژوند وکړم، اصلي خوند باید له منځه لاړ نشي دا ځکه چې زه د اصلي او طبعي "خوند" طابع یم.
بیا هم باید وویل سي چې د تور ښار تورماښام بیخي بدخونده دی او زما تر سترګو، سترګو یوازې سپین په واورو کې پټ د کابل

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



انځور دی؛ که څه هم د تور ښار په کوڅو کې نازکه موسيقي، ښايسته لباسونه، په بالکونونو کې ولاړې نجونې، او دلالان ...
ميوند هغه ته له موبايل يو انځور ښکاره کړ " دلته هره نيمه شپه د مصنوعي حُسن بازار په تنګو کوڅو کې سوربخن څراغونه د ليونې عشق د زندۍ کېدو ګواهي ورکوي."
ــ د "ريډ لائټ" يوه نڅاګره ترهغو پورې خپل اصلي هنر څرګندولای نشي ترڅو ټوله بربنده ونه نڅي.
ميوند ځواب ورکړ:
ــ ددې ځای هره نڅاګره همدا يوه خبره کوي چې دريډ لايټ ته ورته ځايونو کې د جنسي استفادې سره مخامخ کېدو خطر شته خو بيا هم ورته د منلو وړ ده، ځکه اوس په دې پوهيږي چې بالاخره به پر دې هم، د هغې د مور په شان چې په همدې ځای کې نڅا کونکې وه، د جسم خرڅونکې ټاپه ولګول شي؛ نو په همدې اساس تر دې لا هم نورې ښې مستې شپې انتظار باسي...

ايمان د موټر ښيښه ښکته کړه او وې ويل " ميونده د کابل ښار او بازارونه په خپل ځان کې يو ډول مست بوی لري. د دې ښار ماښامونه يوازې پدې ارزي چې تل په يوه مسته ګناه کې تېر کړل سي، ځکه انسان طبعاً ګناه ته جوړ دی او هرڅومره چې کولای شي، ګناه دې وکړي."
او پسې زياته يې کړه:

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډمې دنیا مکار اوسیدونکي د پرونۍ بربنډې شپې سندره په ډېر زور سره زمزمه کوي او په دې فخر کوي چې څرنګه یې مقدسه د حیا لوپټه د لعین شیطان له ارادې سره سمه په مردارو اوبو کې وینځلې ده، موږ به نن خامخا دا سندره د نڅا په محفلونو کې په ویاړ سره غږوو، ځکه موږ هم د وخت تابع ګرځېدلي یوو او دا هرڅه په ډېرې سپین سترګۍ سره د افتخار وړ ګڼو.

اوس پوښتنه داده چې د پښتون حسن حیا څرنګه په مردارو اوبو ډوبېدلی شي؟

هیڅوک له بربنډو اندامونو څخه سترګې نشي پټولی او خوښېږي مو چې رنې ورځې په داسې شپو بدلې کړو چې د هوس تشنګي مو له منځه یوسي، مګر په واقعي حقیقت تل خپلې بینا سترګې ړندې ساتو.

ماته دا ډېره په زړه پورې پېښه ده چې نن ورځ جوهر للام ته اینسودل کېږي او هیڅوک د هغه له اصلي قیمت څخه باخبر نه دي.

له همدې سره سم دوی د کور په دروازه کې وو، میوند او ایمان کور ته راورسېدل.

د کور مخې ته امنیتي ځواکونه او د خلکو ګڼه ګونه وه "مریم ځان ویشتی او هغه یې همدا اوس روغتون ته انتقال کړه" یو کس د میوند په ځواب کې وویل.

ایمان د همدې خبرې له اورېدو سره له موټر ښکته شو او غوغا یې جوړه کړه، یو تن عسکر را مخکې شو او هغه یې سمبال کړ،

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېبه وروسته ایمان او میوند یواځې دومره وتوانېدل چې تر جنازې لاندې یې څو قدمه ولاړ سي، اوږې یې سپکې شوې او له یوې کندې څخه خاورې او دوړې باد سوې او په څو ساعتونو کې د مریم جسد له یوه لمن ارمانونو سره خاورو ته وسپارل شو.

په تلویزون کې خبر و" په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین وایي، له امریکا سره مذاکراتو کې موافقې ته نژدې شوي دي".
خو ایمان په سوچونو کې ډوب تللی ناست و میوند د چوپتیا ماتولو په موخه دهغه په اوږه لاس ورکېښود او ورته یې وویل "څه کیسه ده چې داسې له ځان سره لګیا یې او خبرې کوې؟ "

ـ د وطن زګېروي اورم، په وجود کې یې ځړیکې احساسوم، هرڅه شېبه په شېبه بدلېدونکي دي، هیڅوک د کیسې په مفهوم نه پوهېږي، یوه وحشي وېره خاموشه چیغې وهي.

ژوند خفه دی، وطن خفه دی لنډه دا چې هرڅه خفه دي.
ایمان له یو سخت حالت سره مخ و، هغه "مثلث" چې د همت تر مړینې وروسته د مریم په راتلو سره تکمیل ښکاریده یوځل بیا نیمګړی شوی و.
میوند ته یې مخ ور واړوه او ورته یې وویل:

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ زما ګرانه هیڅوک د خپلې پلرنۍ هدیرې مستحق نه دی او هیڅکله باید دا تمه موجوده نه وي چې ځلور اندامه بدن یې خوشبویه او په پاکه ټوټه کې ونغښتل شي.
زه د خپلې ذاتي کینې له امله نشم کولای اکتسابي کړنې د فطرت برخه وګرځوم، زه د انسان په توګه بهتر یم مګر زما حرکات د حقارت وړ دي.

یو ناولی صورت ځرنګه خدای پخپله مقدسه خاوره کې داسې په اسانۍ سره ځایولی شي، چې نوموړی د بې حده عذاب مستحق وي.
هو! پخپل ځان فخر پکار دی، باید وویاړو چې ظاهراً تر باطن ډېر ښکلي یوو او ټول هغه څه چې په واقعي توګه زموږ د بدرنګۍ سبب ګرځي تر جامو لاندې پټ ساتلی سو.

زموږ روح هیڅکله له اسلافو سره د ملاقات وړ نه ده، ښه ده چې بې وطنه، هم بې کفنه د اروا له شرمندګۍ وژغورل شو.
بیا یې میوند ته د کور کلیانې ونیوې، دا واخله ددې کور کلیانې ...،
زه غواړم د یوڅه وخت لپاره چیرته لاړ شم او هو هیڅکله زما په اړه پوښتنه مه کوه، که چیرته اړتیا دې نه وه، ته کولای شې دا کور خپل مالک ته وسپارې او پرته له دې چې نور څه ووایي خپلې جامې یې ورټولې کړې او د نامعلوم سفر په لور یې له میوند څخه رخصت واخیست.

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پای

★★★

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**